پوهه لا هم کتاب کې ده
Knowledge is Still in Books



# دوه منګوري

## ډرامه

لیکوال: هان تین
ژباړن: څېړنوال الحاج مولوي زین الله منلی


بسم الله الرحمن الرحيم

# دوه منګورې

ليکوال: هان تين
ژباړه : د سرخېړونکي مرستيال الحاج مولوي زين الله منلی

# د سر خبرې

ځینې کسان پخوانیو آثارو ته د تاریخ تېرو درملو په سترګه ګوري ، حال دا چې د ځینو آثارو تاریخ نهٔ تېرېږي. کلیله او دمنه په همدغو تلپاتې اثارو کې شامل دی چې لوستل به یې همېشه د انسان په ګټه وي او د ماکیاولي د کتاب غوندې جانبي عوارض هم نه لري.

په کلیله او دمنه کې یو فیلسوف د وخت پاچا ته ځوابونه ورکوي ، ځوابونه یې مصور او مدلل دي. فیلسوف د پاچا د هرې پوښتنې په ځواب کې یو نکل اچوي چې د پاچا زړهٔ یې مني. دغه اکثره نکلونه د حیواناتو حکایتونه دي او په تمثیلي ژبه مو په ا نساني ژوند کې شریکوي.

په دغو نکلونو کې زمری د ځلوربولو پاچا وي او د پاچایانو تېروتنې د زمري د کیسې په جامه کې پاچا ته ورښیي. د پاچا هم خوښېږي . پاچا به یا له زړهٔ نیک بنې آدم وي ، یا به د فیلسوف تر اغېز لاندې راغلی وي چې سمدستي یې مني.

د کلیلې او دمنې تعریف مې ډېر اورېدلی و خو پوره مې نه وه لوستې . دا لومړی ځل دی چې پښتو ژباړه یې لولم. ژباړه یې ډېره سلیسه او د پښتو د اوسنیو نثرونو په شان ده ، یعنې د پخوانیو متکلفو نثرونو اثر وربانډې پروت نه دی چې تر مطلب یې (

وپوهېدې ) ډېر وي. ممکن دغې ازادې ترجمې به د ژباړې متن توږلی او کوچینی کړی وي. دغه کار اثر له اوسنی زمانې سره برابر کړی او د دې زمانې د خلکو د لوستو وړ یې ګرځولی دی .

زه محترم منلي صاحب ته د دومره ښې ژباړې او د ژباړې لپاره د دومره ښه انتخاب مبارکي وایم او په لوستونکو زړهٔ ور غړ کوم چې تاریخ تېر اثر نه لولئ ، بلکې داسې اثر لولئ چې د اخلاقو او د ښکلا په څېر د هرې زمانې خلکو ته اهمیت لري. کلیله او د منه د اخلاقو او ښکلا یوه سرچینه ده.

په درناوي ، محمد صدیق پسرلی

# د مرګ دارو

د پاچا درې زامن وو، درې واړه بدکاره، نامنونکي او ناپوهه. پاچا چې مرګ پـه سـترګو لیده، د خپل مملکت راتلونکې ته خورا اندېښمن و، ځکه چـې زامـن یـې درې واړه نـا اهله وو او د دې متره یې نه په کې لیده چې د نیکونو میراث دې خوندي کـړای شـي. برهمن ویشنوشرمان یې راوغوښت، امر یې ورته وکړ چې د شپږو میاشتو په تـرڅ کـې نا اهله شازادګان داسې وروزي چې هر یو یې د پاچايي وړ شي.

ویشنوشرمان په پینځو برخو کې یو کتاب ولیکه چې د شازادګانو د روزنې له پاره تـرې کار واخلي. دې کتاب ته یې د «پانچه تانترا» یا پینځو اصولو نوم ورکړ:

١ - د ملګرو تر منځ بېلتون

٢ - د ملګرو د میندلو طریقه

٣ - د کارغانو او ګونګیانو جګړه

٤ - د ګټل شویو شتو له لاسه ورکول

٥ - بې فکره کړنې

دا کتاب یې په داسې ډول ولیکه چې که شاګرد هرڅومره نامنونکی او بـاغي هـم وای باید له دې کتاب سره یې مینه پیدا شوې وای او څه یې ترې زده کړي وای.

شپږ میاشتې وروسته ویشنوشرمان له خپلو شاګردانو سره د پاچا حضور ته ورغی. درې واړه هغسې هوښیار او له کماله ډک وو، لکه برهمن یې چې پاچا سره ژمنه کړې وه.
کیسه نه وایي چې ویشنوشرمان ته له خپل دغه تخلیقه څه ګټه هم ورسېده که نه، خو پاچا امر وکړ چې د «پانچه تانترا» کتاب دې د شاهي خزانې د ترټولو ارزښتمن توکي په صفت وساتل شي او پرته د شاهي کورنۍ له غړو دې بل چا ته د هغه د کتلو اجازه نه ورکول کېږي.

***

د نوشېروان پاچا (۵۷۰ زېږدی کال شاوخوا) په دربار کې مشهوره وه چې په هند کې داسې یوه دوا شته چې مړي پرې ژوندي کېږي. نوشېروان د خپل دربار تر ټولو پوه طبیب برزویه ته وویل چې ولاړ شي او دغه دوا پیدا کړي. برزویه هند ته ولاړ، کلونه کلونه یې د هند له پوهانو سره ناسته ولاړه وکړه او د ژوندبخښونکو درو په لټه کې یې نه کتابتون پرې ښود، نه یې د شهرت خاوند طبیب او نه د باور وړ جوګي. ډېر بوټي یې را ټول کړل، ډېر ترکیبونه یې وازمېیل خو یو مړی هم ژوندی نه شو. له کلونو کلونو خواریو وروسته په دې پوه شو چې هغه درمل چې دی یې په لټه کې و نه کوم بوټی و او نه کوم مینرالي ترکیب، بلکې یو کتاب و چې د پاچا په خزانه کې ډېر کلک ساتل کېده. برزویه لوړه وکړه چې نوشېروان ته به تش لاس نه ورځي، له عالمه یې ځان جاسوس کړ، په سل ډوله چل او ول یې ځان د هند د پاچا خزانه دار ته نېږدې کړ، په ښه خوی، په ښو خبرو، په ښو سوغاتونو یې د هغه زړه خپل کړ، تر دې چې اجازه ورکړل شوه چې هغه کتاب هملته د پاچا په زېرمتون کې وګوري او یوه نسخه ترې واخلي.
نوشېروان چې پوهه او عدل یې تر ننه زموږ په سیمه کې یادېږي برزویه و نازاوه او دا کتاب یې د لمر رڼا ته راویوست.

***

د عباسیانو په پېر کې ابن مقفع دا کتاب له پهلوي څخه عربي ته وژباړه چې بیا وروسته همدغه د عربي ژباړه د کتاب د نوې خپرېدا سرچینه شوه او «کلیله او دمنه» د نړۍ په اکثرو ژبو وژباړل شو.
د ابن مقفع ژباړه د اصلي پینځو کیسو سربېره څه زیاتونې هم لري چې یوه برخه یې په پهلوي متن کې شوې دي او کېدای شي چې یو یا دوه بابه په خپله ابن مقفع پرې زیات کړي وي. له دغو زیاتونو سره عربي کلیله او دمنه اتلس بابه لري.

***

په فارسي کې د کلیله او دمنه دوه بنې ډېرې منل شوې دي.
– د ابوالمعالی نصرالله منشي ژباړه چې د غزنوي پاچا بهرام شاه له پاره یې په ۱۱۴۷ زېږدی کال کې کړې ده، د «کلیله و دمنه بهرامشاهی» په نامه یادېږي او په فارس کې یې ډېر مینه وال میندلي دي. دا ژباړه ازاده ژباړه ده، ژباړونکي په کې له موضوع سره سم د پارسي ژبې د سترو شاعرانو ویناوې، د قرآن ایتونه، احادیث او عربي مقولې هم راوړې دي.
– «انوار سهیلی» ملا حسین بن علی کاشفی چې په «کاشفی سبزواری» یا «بیهقي» هم مشهور دی په پینځلسمه زېږدي پېړۍ کې د سلطان حسین بایقرا (۹۱۱ ل.س. مړ) په دوره کې ژباړلی دی. له دې نوې ژباړې څخه د ملا کاشفي سبزواري موخه د بهرامشاهي کلیله او دمنه د ډېرو پېچلو ترکیبونو او نامانوسو لغتونو څخه د لوستونکو خلاصول وو. وروسته په ۹۹۶ ل.س. کال ابوالفضل بن مبارک علامي د انوار سهیلي او د منشي نصرالله د لیکنو څخه یو ترکیب د «عیاردانش» تر سرلیک لاندې وړاندې

کړ. د هند په نیمه وچه او افغانستان کې انوار سهیلي او عیاردانش د بهرامشاهي کلیله و دمنه په پرتله ډېر مینه وال درلودل.
پښتون لیکوال افضل خان خټک همدا «عیاردانش» تر نن درې سوه کاله وړاندې په روانه پښتو د «علم خانه دانش» تر سرلیک لاندې وژباړه خو لکه څنګه چې ښایي پښتو ژبیو لوستونکو ته د کلیله او دمنه کیسې په خپله ژبه تراوسه نه دي رسېدلې.

***

دا کتاب
شاوخوا څلوېښت کاله پخوا چې ما لیکل او لوستل زده کړل نو په کور کې مو زما د پلار په قلم لیکل شوې یو کتابچه وه چې ما به د کورنۍ نورو غړو ته لوستله.
دا کتابچه په روانه پښتو د کلیله او دمنه ژباړه وه.
هغه متن چې دغه کتاب ترې ژباړل شوی ما ته نه دی معلوم خو د ژباړن په یادو د کلیله او دمنه یوه عربي نسخه وه چې د رسالو په ډول په مصر کې چاپ شوې وه او ظاهراً د ابن مقفع د متن اسانه شوې بڼه ښکاري. ژباړونکي هڅه کړې چې د کلیله او دمنه له روحیې سره سم، پښتون لوستونکی د دې متن په لوستلو کې د پردي والي احساس و نه کړي. ځینې نومونه یې هم پښتو کړي دي (د «شتربه» پر ځای «چغر»، د «بندبه» پر ځای «برګی» راغلی دی او «حمامة‌المطوقه» په پښتو کې «کوړکوړۍ کوتره» شوې ده). د ژباړې نثر هم روان او ساده دی. په یو نیم ځای کې ژباړن د پښتو د څلوېښت کاله پخوا ژبني معیار سره سم مترادفات هم کارولي دي او کله کله یې په ترکیبونو کې د کلمو ځایونه سره اړولي دي.
په یاد مې دي چې د ۱۳۵۰ په لسیزه کې مې پلار هڅه وکړه چې دغه اثر د هېواد په مطبوعاتو کې خپور کړي خو د وخت چارواکو یې د دې اقدام مخه ونیوله.

په څلوېښتو کالو کې زموږ کورنۍ هم - د نورو ډېرو په څېر – څو څو ځله په هېواد کې دننه او له هېواده بهر کډه کړې ده. د ژباړن ځينې ليکنې چې زما په ياد دي اوس زموږ له لاسه وتلې دي. «کليله او دمنه» هم په دغو کډو کې يو څه زيانمن شوی دی. دوه مخه يوځای له منځه تللي دي، څو کرښې بل ځای ړنګې شوې دي.

د دې متن د چمتو کولو پر مهال، کله مې چې پروف لوستل اړ شوم چې هغه ځايونه چې اوس په لاس کې نه وو د بهرامشاهي کليله و دمنه او د ابن مقفع د متن پر بنسټ ډک کړم. دغه ځايونه د کتاب په متن کې د [] نخښو تر منځ ښوول شوي دي. همدا راز له اوسني دود سره د متن د املا د برابرولو په ترخ کې مې کله کله هغه د ربط توري (او، نو، تر څو چې) چې زما په اند يې د متن روښانتيا ته زيان رساوه حذف کړي دي. هيله ده چې د اثر ژباړونکی به زما دغه ګستاخي راوبخښي.

نجيب منلی

حمل ۱۳۸۹

# لومړۍ پرده

## د جهيل ملاقات

هانګ چو ته موږ له اوسي غره څخه راغلو (د سني چوان په غرب کې يو غر دی)

(سپينه منګوره او شنه منګوره راننوتلې)

د انسانانو په نړۍ کې داسې حسن څوک ليدلی شي؟

دلته معبد چې سيوری يې پر وياله پروت دی؛ هلته خيمه چې د جهيل پر غاړه ولاړه ده؛ ولې يې په غاړه کړې ولاړې دي، نرۍ دي ده، چې له کښتيو سره تماس وکړي او د زردالو غوړېدلې غوټۍ په شمال کې رېږدي.

شنه منګوره (دنجلۍ توب له لوړو خيالاتو سره) خورې موږ خو ډېر ښه ځای ته راغلې يو! دا خو ډېر ښکلی دی! ګوره چې ټول نندارچيان جوړه جوړه دي!

سپينکۍ: هو! موږ د امې غره پر سر د حقيقت څېړنه کوله په غره کې په غار کې مېشته وو. د انسانانو له نړۍ څخه هره ورځ په سپينو وريځو بېلېدلو. موږ به خپل پاسره کړی وخت بې فايدې په لمونځو او ځنګلو

نو کې تېراوه دا ډېره ښه شوه، چې دغه ښکلې او د خندا ځای ته راغلو.
شینکۍ! ګوره چې وړاندې نړېدلی پل ښکاري.
شنه: خورې! دې پله ته چې نړېدلی وایي، نو ولې نړېدلی نه دی؟
سپینه: اوه شینکۍ! پل د خپل نوم غوندې نړېدلی نه دی او ننداره‌چیان هروخت د دغه پله د لیدو لپاره دلته راځي. داسې ښکلې غونډۍ او جهیلونه دي. ښه ده چې اومې غر مو پرېښود!
(ورځ ناڅاپه وریځ کېږي)
(باد را الوځي او ورځ وریځ کېږي)
شنه: خورې! ګوره هغه دی یو ځوان، چې چترۍ ورسره ده او دې پلو را روان دی، څنګه ښکلی ځوان دی!
سپینه چېرته؟ (شنې ورته ځوان وروښود) اوه! دا خو د «پاآن[1]» په څېر دی، چې د لایانګ په کوڅو ګرځېده.
شنه: (په مسا او غلچکې نظر په چورت کې ورکه ده) دا خو باران دی، راځه چې ځو خورې!
سپینه: ښه ده ، راځه چې ځو. له زرونو کاله ارام وروسته زما زړه په اضطراب او نا کرارۍ کې دی.
(شنې له دې سره دیوې پناګاه په موندلو کې مرسته کوله او هسوهسین په داسې حال کې، چې چترۍ ورسره ده، په باد او باران کې راځي.)

---

[1]. یو ښکلی مشهور سړی.

هسو: د مور له زيارته د کور په خوا روان شوم. اوس دا دی باد او باران دواړه راځي. د ونو څانګې ښورې او د زردالو غوټۍ توييږي. تر دې ډېر توقف نه شم کولای.
شنه: خورې! دا خو له هر وخت نه سخت باران دی، راځه چې يوه شېبه د يوې ولې لاندې کښېنو.
سپينه: ډېره ښه ده.
هسو (په داسې حال چې را روان دی، د ولې لاندې دوې تنه نجونې ګوري): اوه! دا وله خو باران نه شي ايسارولای! (نجونو ته) نجونو وبخښئ، کوم ځای ته ځئ؟
شنه: زه او زما باداره راغلو، چې د غربي جهيل مېله وکړو او دا دی دلته باران راباندې راغی. اوس غواړو چې چينګتانګ دروازې ته ولاړې شو. ښاغليه ته کوم ځای ته ځې؟
هسو: زه چينګپو دروازې ته ځم. تاسې څرنګه د دغې ولې لاندې په داسې زورور باران کې ځای نيولی؟ ښه دا ده چې زما چترۍ واخلئ.
سپينه: نو ته به څه وکړې؟
هسو: زما پروا نه شته.
سپينه: نه داسې نه کېږي.
(کښتۍ وان رانښکاره کېږي)
زه نندارچيان په کښتۍ کې د شګوفو مېلې ته بيايم.
هسو: سخت باران دی. زه به لاړشم او هغه کښتۍ به په کرايه راولم. تاسې مهرباني وکړئ کښېنئ.

سپینه: ښه! دا دې له مورې سره ډېر ښه دي. (چترۍ اخلي)
هسو: دا څه ښه دي؟
کښتۍ وال: تر څو دا څپه راپورته کېږي. زه به یوه پیاله شراب وڅښم.
هسو: اې کښتي وانه!
کښتۍ وان: کښتۍ غواړې؟
هسو: هو.
کښتۍ وان: چېرته ځئ؟
هسو: لومړی چینګتانګ دروازې ته او بیا ما چینګپو دروازې ته بوځه او کرایه دې واخله.
کښتۍ وان: ډېره ښه ده، را وخېژئ. د کښتۍ تختې ښویې دي؛ نجونې دې پام کوي، چې ونه لوېږي.
سپینه: شنې لاس راکړه (کښتۍ ته خېژي)
هسو (په داسې حال کې چې کښتۍ ته خېژي): وخېژئ (دی له نجونو لږه فاصله وړاندې درېږي او په لستوڼي له باران نه مخ پنا کوي)
کښتۍ وان: سخت باد لګېږي، نژدې سره ودرېږئ.
شنه: هو، باران دی، اوري. راځئ، چې دا چترۍ سره وویشو او برخه پکې واخلو.
هسو (په داسې حال کې چې تعظیم کوي): زه ډېر ښه یم.
سپینه: نه ارو مرو به راځې.

(شنه منګوره قدم وراخلي، چې پر هسو هم چترۍ ونيسي؛ خو دلته سپينه منګوره نيمه ښکاره کېږي او بېرته را وړاندې کېږي، نو هسو او سپينه سره دواړه يو ځای درېږي.)
کښتۍ وان: دا ډېره خوندوره ده، چې په جهيل او د پسرلي په باراني، توپاني هوا کې په مينه سره يو ځای ولاړ ياست.
(سپينه او هسو تر ښو لاندې سره ګوري)
(باران درېږي او هسو لږ وړاندې درېږي او پله ته ګوري)
هسو: ښه، باران خو ودرېده، وريځ لاړه او اسمان شين شو او زما کالي له ونو نه رالوېدلو څاڅکو باندې لانده دي.
شنه: خورې! جهيل څرنګه صاف ښکاري.
سپينه: هو! پاس شين اسمان، باران وهلې غونډۍ او زما ورېښمين کميس، چې شمال يې رپوي، څومره خوند کوي.
هسو (چې د دې په ښکلا زړه بايلي): دا خو ډېره ښکلې نجلۍ ده.
سپينه: شينکۍ له دغه ځوان نه پوښتنه وکړه، چې چېرته اوسېږي، چې يوه ورځ يې د تشکر لپاره ملاقات وکړو.
شنه: ښه! (هسوته) ګرانه تاسې چېرته اوسېږئ؟ زما باداره غواړي، چې ستاسې شکريه پر ځای کړي.
هسو: دې ته کوم حاجت نه شته، زما کوډکی د چينګپو دروزاې نه وتلې مانۍ سره دی. او دا يو کمکی خدمت و، چې ما ستاسې و کړ او دومره نه ارزي، چې تاسې تکليف و ګالئ او زما ځای ته راشئ.

سپينه: ته ډېر مهربانه يې (هسو په څنګ شو او ځواب يې ورنه کړ) دا څو مره شرم ناک سړی دی، په ځواب راکولو هم شرمېږي او سر ځوړند نيسي. شينکۍ! د خپل سکونت ځای وروښيه.
شنه: ښه (هسوته) صاحب مور د چينګتانګ دروازې نه د باندې څاد مانۍ سره اوسېږو، ته به هلته يوه سره خېمه وګورې، همدغه ځای زما د بادارې ځای دی. که وخت دې پيدا کړ، نو مور هرو مرو وګوره.
هسو: اوه! تاسې له څاد مانۍ سره اوسېږئ، کومه ورځ به درشم او ستاسې ملاقات به وکړم.
کښتۍ وان: دا دی چينګتانګ دروازې ته راورسېدلو. (په داسې حال کې، چې سپينې منګورې چترۍ په لاس کې نيولې؛ په دقت سره هسو ته ګوري)
شنه(په داسې حال کې، چې اسمان ته اشاره کوي، بيا پرې لړې راخپرېږي): دا خو بيا ورېږي (باران شروع کېږي)
سپينه: دا خو باران شو، اوس به څه کوو؟
شنه: دا ده چترۍ...
هسو: ډېره ښه ده ، چترۍ تاسې واخلئ، زه به يوه ورځ ورپسې درشم.
سپينه: ډېره مننه، ستاسې له مهربانۍ څخه ډېره مننه، چې تر دغه ځايه له مور سره بدرګه راغلئ (ساحل ته اشاره کوي) هغه سره خېمه زمور ده، هيله کوم چې ډېر ژر مور وګورئ؟
شينکۍ راځه چې کښته شو (بېرته هسو ته راګرځي) ګرانه سبا به ضرور راځې.

هسو: ارو مرو به درشم، د خدای پامان.
سپینه: دخدای پامان، ډېر مو په انتظار کې مه پرېږده او ژر راشه.
هسو (په داسې حال کې چې دوی پرېږدي): دا څنګه ساعت تېره نجلۍ ده! اوه! دا خو رب النوع ده، چې بېرته اسمان ته لاړه او ما ترې د نوم پوښتنه هم ونه کړه. مېرمنې یوه شېبه صبروکړه!
(شنه بېرته راګرځي)
شنه: څه شی دي؟ چترۍ بېرته غواړې؟
هسو: اوه، نه. ستا د باداري نوم څه دی؟
شنه: زما د باداري نوم سپینه دی؟
هسو: ښه، پېغله سپینه. زما نوم پېژنئ؟
شنه (په خندا): ستانوم؟ ستانوم هسو نه دی؟
هسو: همدا دی. خو څرنګه دې زما نوم وپېژانده؟
پر چترۍ نه دي لیکل شوي؟ سبا ته په وخت راشه او زما باداره به درته په انتظار وي.
هسو: ارو مرو به درشم، په مخه مو ښه!
شنه: په مخه دې ښه (سلام ورکوي او پاتې کېږي)
هسو (په داسې حال کې چې له ځان سره خاندي، دا ترې لرې کېږي): دا خو ډېره هوښیاره نجلۍ ده. دیوې ځوانې او محبوبې نجلۍ د خدمت وړ ده. (له ډېرې خوشحالۍ نه یې بیا د سپینې نوم، آه، د دې نوم څه و؟ د دې نوم...دی.
کښتۍ وان (په مسخره): د دې نوم سپینه دی.

هسو: هو، رښتیا سپینه دی.

کښتی وان: تا لکه چې مخکې تر دې دوی نه پېژندلې؟ ما خیال کاوه، چې ته ګوندې د دې کورنی غړی وې.

هسو: دا هغه مثال دی، چې هر شاعر وایي: (کاشکې په توپاني هوا کې له خطرونو سره مخ شوی وای.)

کښتی وان: باران به دوی درسره یو ځای کړي.

(دی هسو په خبرو کې ټېل وهي)

(هسو په چورت کې لوېږي او ساحل ته رسېږي)

## هغه لویه خېمه چې د کور غوندې وي

# دویمه پرده

واده

**(سره خېمه، د جهیل پر غاړه)**

شنه (رانښکاره کېږي): ښاغلیه هسو! پر دې لار راځه.

(شنه ننوځي او هسو هسین ورپسې دی)

شنه: د کور د دروازې لار مې جارو کوله، چې هغه سړی راغی، چې زما خور یې په انتظار کې وه.

(هسوته) مهرباني وکړه، پر چوکۍ کښېنه. (دا دننه کور ته ځي).

هسو (ځمکې ته ګوري): نو یوه ښاپېرۍ د ښاد معبد سره نژدې د جهیل پر غاړه په دغې سرې خېمې کې اوسېږي.

(شنه په چالاکۍ سپینه راولي)

سپینه: دا څه دي؟

(شنه ورسره پسپسکی کوي او خاندي) وایي: هغه خو راغلی دی.

سپینه (خوشاله شوه): آو، چېرته دی؟ (دا د ناستي کوټې ته ځي، چېرته)

هسو: ورځ مو په خیر مېرمنې!

سپینه: ستاسې ورځ په خیر، ګرانه مهرباني و کړه، پر څوکۍ کښېنه.

(دوی کښېني او شنه چای تیاروي)
سپینه: کله چې پرون موږ د جهیل پر غاړه باران ونیولو؛ نو که ته نه وای او چترۍ دې نه وای راکړې او کښتۍ دې نه وای را ته پیدا کړې؛ نو زه نه پوهېدم چې ما او ملګرې به مې څه کول.
هسو: دا خو هر څوک وي، دا کومه دیادونې وړ خبره نه ده.
سپینه: شنې ته لږ شراب راوړه، چې ویې څښو.
شنه: ښه، (ژر وځي)
(شنه پیالې او د شرابو لوښي راوړي او شراب په پیالو کې اچوي.)
سپینه: ستاسې د سر په سلامتۍ!
هسو: ستاسې د سر په ښه سلامتۍ!
سپینه: تاسې څومره فامیل لرئ؟
هسو: زه لاوړو کې وم، چې زما پلار او مور مړه شول او زه اوس له خپلې خور کره اوسېږم. زما اخښي زما سره ډېر ښه دی؛ خو له کله چې په خپل منځ کې ښه نه دي؛ نو ما ته یې په یوه درملتون کې کار پیدا کړی دی.
سپینه (په داسې حال کې چې زړه یې وربانډې سوځي): چې ته په درملتون کې کار کوې؛ نو څرنګه دې د جهیل دلیدلو وخت پرون پیدا کړ؟
هسو: زه د جهیل د لیدو لپاره نه وم تللی. زما مور د لینجین غونډۍ تر شا ښخه ده. پرون د هغې تلین و او د هغې د هدیرې دلیدو لپاره مې نیمه ګړۍ رخصت اخیستی و، زه بېرته راتلم، چې له تاسې سره مخ شوم او د باران زورو.

سپينه: ته څه ښه زوی يې! (خپله پياله پورته کوي) مهرباني وکړه، وڅښه.
هسو: مهرباني کوئ.
(وروسته له شرابو څښلو سپينه په ورو پاڅېږي او شنه ځان يو څنګ ته کوي.)
سپينه: شنې!
شنه: هو! خانم.
سپينه: پټ څه درته وايم. (دا په پټه شنې ته په شرم کې څه وايي)
شنه: نو څنګه به زه له ده نه دا پوښتنه وکړم؟
(سپينه يې په څنګل وهي)
شنه (په پټه وايي): ولې پخپله ترې پوښتنه نه کوې؟
سپينه: خورې مهرباني وکړه.... (دا بېرته ځي او په شرم کې له کوټې وځي)
شنه (هسو ته مخ کوي): زما باداره غواړي پوه شي، چې تا واده کړی که نه؟
هسو: زه خو ډېر بې وزله او غريب يتيم يم، د واده فکر قدر هم کولای نه شم.
شنه: چې تا واده نه دی کړی، زما باداره هم تر اوسه پېغله ده او غواړي چې ستا محبوبه او په زړه پورې ماندينه شي، ته په دې کې څه وايې؟

هسو: دا خو دومره ښه خبره ده، چې ما په خوب کې هم دا خوب نه دی لیدلی؛ خو ما درته وویل چې زه غریب او د درملتون مزدور یم، خپل کور نه لرم؛ نو زه به څنګه تاسې دواړه و ساتلای شم.؟

شنه: دا خو اسانه ده، موږ سره د خپل ورځني ضرورت غم نه شته کله چې زما د بادراې پلار مړشو نو دې ته یې ډېر مال او شته په میراث پرېښودل؛ نو ته په درملتون کې کار کوې او زما باداره هم دوا درمل پېژني او په طب پوهېږي او چې تاسې سره ېې واده وکړ نو دواړه به یو ځای کار کوئ، نو په دې صورت کې څه غم دی؟

هسو: ښه نور به لاړشم او خپلې خور ته به دا کیسه ووایم.

شنه: ته ولې دومره تادي کوې؟ دا ښه نه دي چې اول ته واده وکړې او بیا دې خپله ناوې درسره بوځې او خپله خور او اخښي دې وګورې؟

هسو: خو زه د واده اسباب او سامان نه لرم.

شنه: پاه، څه د واده سامان غواړې؟ همدغه چترۍ به دې د کوژدې ټول اسباب برابر کړي او نن ډېره بختوره ورځ ده. پرېږده چې د واده شمعې بلې کړم او ته اوس په خوښۍ ګرځه. (شنه شمعې بلوي)

هسو (په داسې حال کې چې دې ناڅاپي چانس او بخت ته حیرانېږي): دا ولې....

شنه: اوس نو هر څه تیار دي، اجازه راکړه چې ساز جوړ کړم:

دوه مسافران سره یو ځای کېږي او یوې چترۍ دا کار تر سره کړ، چې دوه یارن یې سره جوړه کړل، اوس نو جهیل د مینې یو بحر دی او مینان له خدایه خوښي کوي.

اوس موزیک شروع کېږي دا اوس د ناوې د راوتلو وخت دی.
(څرنګه چې موزیک په لوی سالون کې پیل کوي. شنه هسو مخاخ لمر خاته پلو دروي او سپینه چې سرې جامې یې اغوستې دي، د ګلونو تاج یې په سر کړی دی، راولي سپینه او هسو یو بل ته ټیټېږي او احترام کوي.)
شنه: اول اسمان او ځمکې ته احترام وکړئ او بیا خپلو پلار ګنیو ته ؛ نو بیا یو اوبل ته او بیا ځئ د خپل ناویتوب خونې ته.
(احترامي مناسبات پای ته رسېږي، شنه دوی سره مرسته کوي او د ناویتوب کوټې ته یې بیایي.)

## دریمه پرده

# فاهای

(د چنشان خانقاه)

(فاهای په کوچ کې کېښني او مریدانو ته توجه کوي.)

ټول وایي: زموږ خانقاه له پېړیو راهیسې د حکومتونو په لوېدو او راپورته کېدو کې په یوه حال پاتې ده، لکه اوبه چې په دایمي ډول بهېږي او په لوی دریاب کې لوېږي.

فاهای: په مرګاني انسانانو مې رحم راځي، چې د دریو مرګنیو ګناهونو لاندې راځي چې شهوت پرستي، قهر وغضب او بخل و حرص دي؛ خو د شرارتونو سین به پخپله لار ځي او د قدر دانۍ غر همدلته ولاړ دی.

زه فاهای د چنشان دخانقاه راهب یم. په دې تازه وختو کې یوه نجلۍ چې سپینه نومېږي، چینګیانګ ته راغلې ده او ماته معلومه ده، چې دا نجلۍ د زرونو کالو د منګورې روح دی چې د انسان په بڼه ګرځېدلی دی. دا نجلۍ د هانګچو پر هسوهسین مینه شوې او له هغه سره یې واده کړی دی. اوس دوی یو درملتون هم جوړ کړی دی؛ څرنګه د بودا په

ځمکه کې دا ډول بلا وزغملاوی شو؟ زه به هرو مرو هسوهسین ته له دې بلا نه نجات ورکړم او دا بلا به بندي کړم. ما فامنګ لیږلی دی، چې د دغې خبرې څېړنه وکړي؛ خو هغه تر اوسه بېرته نه دی راغلی.
(فامنګ را ننوځي)
فامنګ: پلاره! زه خو بېرته راغلم.
فاهای: د سپینې منګورې او هسو هسین په باره کې دې څه معلومات حاصل کړل؟
فامنګ: ما هسوهسین ولید او زموږ خانقاه ته یې یو بار سندل تحفه راکړه.
فاهای: ماته به دې یو ځل راوستلی وای.
فامنګ: ما ده ته ویل چې د دې میاشتې په پنځلسم زموږ د مذهبي رییس د مجسمې د تزیین او احترام ورځ ده او زموږ متولي دې غواړي اوبله دا چې دوی هم درسره راوله هسو به راته؛ خو د ده د ښځې خدمتګارې شنې وویل، چې زما باداري امر کړی دی، چې موږ د ښاد له کشیشانو او کاهنانو سره هېڅ ارتباط نه ساتو تر دې که فاهای یې هم وغواړي دی نه شي تلای.
فاهای: دا څو مره بدسترګې ده! په کوم ځای کې چې بودا حکومت کوي، څنګه دا بلا دومره چټیات وایي؟

(دی خپلې جامې بدلوي او خپله امسا اخلي)

په داسې حال کې چې د مریدانو په ټولي کې ولاړ او امسا یې په لاس کې ده، وایي: زه ځم او هسو هسین له دې ظلم څخه ژغورم.

مریدان پلاره! موږ هم درسره ځو.

فاهای: نه، تاسې همدلته اوسئ (وځي)

# څلورمه پرده

# اخطار

(پاومو درملتون)

هسو: دلته خو د سين په غاړه ډېرې ښې تازه مېوې خرڅېږي، چې لږې خوخپلې ماينې ته يوسم.

(شنه د ده ستړي مشي ته راوځي)

شنه: ښاغليه ښېرته رغلې!

هسو: هو، باداره دې چېرته ده؟

شنه: هغه د ناروغانو په معاينه بوخته ده.

سپينه (ناروغ ته): د خداى پامان.

ناروغ: ډېره مننه.

سپينه: د خداى پامان (دا راوځي او هسو ګوري) اوه! ته خو ښېرته راغلې يې!

هسو: هو! دومره ډېر سخت کار هم مه کوه، لږ دمه هم کوه.

(دى د مېوو پچې پټوي)

سپينه: ناروغان زما په انتظار دي، نو څنګه دمه وکړم؟

هسو: خپل حال هم مه هېروه ګرانې!

سپینه (د خوښۍ په حال کې): البته خپل ځان هم نه هېروم د دې سترګې په پچۍ لګېږي).
هسو: همدا اوس د تانګ تینګ جزیرې له مېوه پلورونکي سره په ساحل کې مخامخ شولم. دا مېوې ډېرې کم یابه دي؛ نو ما هم تاته له دغو مېوو لږه مېوه راوړه.
سپینه: ته خو زما په حال ډېر مهربانه یې. (مېوه اخلي) ډېره مننه.
هسو (په داسې حال کې چې مېوه پر مېز ږدي او له خپلې ماینې نه لاسونه تاووي): ته باید دا ونه وایې. زه یو غریب یتیم وم. کله مې چې ته ولیدې؛ دا همدا ستا د واده برکت دی، چې زه په ځان کې خوښي ګورم، موږ دلته په چینګکیانګ کې استوګنه کوو او دا هم ستا برکت دی، چې زموږ درملتون په بریالیتوب سره په کار لوېدلی دی، زه نه پوهېږم، چې څرنګه ستا پوره شکریه اداء کړم زما د مېرمنې مینه د بحر غوندې ژوره ده، شنې!
شنه: هو! ګرانه همداسې ده.
هسو: څه! او ډاکتر ته ووایه، چې ستا د بادارۍ د دمې په وخت کې د ناروغانو مراقبت وکړي.
شنه: ښه ښاغلیه. (وځي)
هسو: ګرانې راځه، زه څم چې بستره درته جوړه کړم (په خندا وځي).
سپینه: زه د ستي درځم.

زما مېره ډېر مهربان دی، خوښي او غم راسره وېشي. زه پوهه شوم، چې انسان ډېر خوښ مخلوق دی او موږ دغره غار بې فایدې نه دی پرې ایښی. (هسو بیا راننوځي)
هسو: څه شي معطله کړې؟
سپینه: درځم. (دوی لاس په لاس د خوب کوټې ته ځي، چې په دې وخت کې شنه راننوځي)
شنه: ډاکټر ته مې وویل.
(دوی ټول پاتې شول)
(فاهای امسا په لاس راننوځي)
فاهای: زه په کښتۍ کې په یانګڅې راتېر شوم، دې هټۍ ته راغلم، چې دا بلا وشړم.
دننه څوک شته؟
(هسو راننوځي، چې مېوه پر ځای کړي، فاهای ته سلام اچوي)
هسو: آه! پلاره هر کله راشئ.
فاهای: ښه اوسې ، هسو ته یې؟
هسو: هو! ستا نوم څه دی؟
فاهای (په آرامۍ): زما نوم فاهای دی؟
هسو: ته راهب فاهای یې! ما خیال کاوه، چې ته کوم فقیر یې او څه غواړې، ما مخکې یو بارسندل درلېږلي دي.
فاهای: تازموږ پوره شکریه ادا کړې ده او زه دلته سوال ته نه یم راغلی.

هسو: البته چې ناروغه يې؟ زما ماينه ستړې ده او استراحت يې کړی دی.
فاهای: ماينه دې مه راپاڅوه، زه راغلی يم چې ستا د ناروغۍ درملنه وکړم.
هسو: زه ناروغ نه يم.
فاهای (په تهديد): مخ دې تور دی. کوم يوه بد روح پر تا باندې جادو کړی دی، څنګه په خپلې ناروغۍ منکرېږې؟
هسو: دا بد روح چېرته دی؟
فاهای: ستا په خوا کې دی.
هسو (په ډار چارپېره ګوري): زه خو څه نه ګورم.
فاهای: هسو دلته راشه (پسپسکی ورسره کوي) ما ته معلومه ده، چې ستا ماينه د زرو کالو د منګورې روح دی، چې د انسان په بڼه اوښتې دی.
هسو: زه ډاډ درکوم چې زما ماينه ډېره ښه ښځه ده ته څرنګه جرئت کوې او وايې چې دا د منګورې روح دی؟ پلاره! دا خو ډېره لويه بې ادبي ده.
فاهای: هسو ته ډېر ښه سړی يې؛ نو زه ځکه پخپله راغلم، چې تا ته حقيقت څرګند کړم؛ که ته په دې خپله بې عقلۍ ټينګار وکړې، يوه ورځ به دې ووژني.
هسو: که دې زما د وژنې اراده درلودلای؛ نو دومره مينه به يې ولې راسره کوله.

فاهاى: دغه مينه ستا دغولولو لپاره ده، كه وخت راغى، نو له ستوني به دې تېر كړي.
هسو: دې خپله خوښي او استراحت د نورو ناروغانو لپاره وقف كړى دى، نو دا كېداى شي چې ما و غولوي؟
فاهاى: ښه.........
دومره مه سرزورى كېږه، ستا ښځه د اومې منګورې روح دى، كه وخت راغى، وبه دې وژني او بيا به په خپل وجود او ژوند ارمان وكړې.
هسو: پلاره! زما ماينه خوږه او مهربانه ښځه ده، دا لويه ګناه ده، چې تورو ور پورې وتړل شي.
فاهاى: ښاغليه هسو! ته احمق يې او خبره نه اورې؛ خو كله چې د "اژدها ببرۍ" مېله جوړه شوه (په دې مېله كې خلك شراب او څه سر كه خوري، چې د مارانو زهر وربانديې تاثير ونه كړي. دغه مېله د قمري كال د پنځمې مياشتې په پنځمه ورځ وي) نو ته ورته يو څو پيالې سر كه يې شراب وركړه؛ نو دابه په خپل شكل واوړي او تاته به معلومه شي، چې مار رښتيا ويل . ښه زه نو اوس ځم.
هسو: پلاره! په مخه دې ښه: (چې فاهاى ووت؛ نو هسو هم يو څه ملامتيا احساسوله او چورت يې وران و)
شنه (راښكاره كېږي): اوه...(دبدګومانۍ تر تاثير لاندې راځي او په چورت كې لوېږي؛ خو كله چې د خپلې ښځې د ښو او ښې ګوزارې فكر ورلوېږي؛ نو دفاهاى خبرې ورته دروغ ښكاره كېږي او به خندا خپلې

وبرې ته رخصت ورکوي او ورسره وداع کوي): داڅه چټې خبرې وې (د مبوې پچې اخلي او قدم وهي، ځي.)

# پنځمه پرده
# څکاک پسې د شکل او ښتل

(یو سالون چې د اخلي اتاق ته رهنمایي کوي)

شنه: وخت لکه دغشي غوندې تېرېږي او د "اژدها ببرۍ" مېله بیا راغله ما خپلې خور ته وویل، چې څه چېرته ځان کاږه، چې د مېړه بد ګومانې دې ویده پاتې شي او در باندې پوه نه شي؛ خو دا وایي چې زه باید له خپل مېړه سره یم: ځکه چې زما او د ده بېلتون ډېر ګران دی دا بـه بهانـه وکړي، چې ناجوړه یم دا غواړي چې زه چېرته غونډیو ته وړاندې لاړه شم او د څه وخت له پاره ځان پټ کړم خو ډار بړم چې دا رانـه پـاتې نـه شي. څوک پوهېږي چې پر موږ دواړو خویندو بـه څه بلا راپرېوزي. زه بایـد یوازې غونډیو ته ولاړه شم.

سپینه: شینکۍ!

شنه (راځي): زما خور ولې ماته نارې وهي؟ زه خیال کـوم، چې دې هم د فرار او تېښتې قصد کړی دی!؟

(ژر د باندې ووځي)

(هسو چې د مستۍ اثار پکې لیدل کېږي، دننه راځي چې د شرابو لوښي ورسره دي.)

هسو: د مېلمې په ورځ خلک خوښي کوي او ما هم خپل کورته شراب راوړل!
(ناري کوي) ګراني بیداره یې؟
سپینه (رابښکاره کېږي): هو! له ځان سره وایي، زه هر کال په همدې ورځ ډېره خپه یم؛ خو د خپل مېړه د خوښۍ لپاره ځان خوښ او خوشاله ښکاره کوم)
مړۍ دې خوړلې ګرانه.؟
هسو: هو همداسې مې د مېلمې د احترام لپاره یو څو پیالې د درملتون له ملګرو سره وڅښل او موږ ټول ډېر خوښ وو.
زه او ته عادتاً یو ځای ډوډۍ خورو، خو نن ډېر خپه یم؟ ځکه چې ته ښه نه یې او لکه چې ناروغه یې، زما ملګري غواړي، چې یو څو پیالې سرکه یې شراب د دوي لپاره ته وخورې.
دا دی اول به زه یوه پیاله شراب وڅښم، (دی پیاله تشوي او بله پیاله ډکوي)
سپینه: زه روغه نه یم او شراب نه څښم، زما له خوانه دوي ته تشکر ووایه.
هسو: ته خو پوره شراب خوره یې، نو ولې د "اژدها بېړۍ" مېلمې شراب خوري سره یو ځای ونه کړو!؟
شنه (بې فکره): اوه! نن نه، بله ورځ نن ورځ باید په دې باندې شراب ونه څښې.
هسو (په چورت کې): نن ستا باداره ولې شراب نه څښي؟

شنه (د ستي خپلې خطا ته متوجه کېږي): دا خو نن روغه نه ده پردې سربېره دا چې څه په نس شته هم لري، د هغه لپاره هم شراب ښه نه دي.
هسو: دا خو رښتيا ده، خو تر هغه وخته پورې لا ډېر وخت دی، يو څو پيالې شراب څښل څه پروا لري؟ زه پوهېږم! (شنې ته) چې تا هم ډېر کار کړی شينکۍ. ته هم يوه پياله شراب وڅښه.
شنه: ښاغليه مننه. ته خو پوهېږې، چې ما هېڅکله شراب نه دي څښلي.
هسو: ښه، نو ځه نن رخصت يې.
شنه: زه غواړم چې د خپلې باداري خدمت وکړم.
هسو: ته ځه رخصت يې، نن به زه دا کار وکړم.
سپينه: هو! شينکۍ ځه لاړه شه. (په سترګو کې ورته وايي، ځه او په غونډيو کې ځان پټ کړه)
شنه: خو....
سپينه: ځه پروا مه کوه.
(شنه په کرکه دوي پرېږدي او ځي)
هسو: مور! غواړو چې مېلمه له کوره دباندې تېره کړو؛ نو زما لپاره يوه پياله شراب وڅښه.
سپينه (زارۍ ورته کوي): زه روغه نه يم، مهرباني وکړه او دومره راته مه ټينګېږه.
هسو: ته خو ښه شراب خوره يې که نن شراب ونه څښې، نو ملګري به راپورې وخاندي. يوه پياله!!
سپينه: خو... زه رښتيا روغه نه يم. نن شراب نه شم څښلای.

هسو: ډېره ښه... نو .... خو ماته .... (ناڅاپه خاندي).
سپينه: ولې خاندې؟
هسو: يوه ټوکه را ياده شوه.
سپينه: څه ټوکه؟
هسو (له وېرې څه نه وايي): هېڅ نه شته.
سپينه: ولې له خپلې مايني څخه يو شی پټوې؟ ووايه.
هسو: هغه بله ورځ ماته وويل شول، چې ته دغه وې.
سپينه: څه وم؟
هسو: د زرو کالو منګورې روح وې او دا يې هم راتـه ويلـي دي، چې کـه تـه سرکه او شراب وڅښـې؛ نـو تـه پـه خپـل حال بېرتـه اوړې او منګـوره کېږې.
سپينه (ټکان خوري خو اختيـار لـه لاسـه نـه ورکـوي): څـه؟ دا چټيات چا درته ويلي دي؟ (تبسم کوي) نو ګومان کوم، چې لـه مانـه دامتحـان لپـاره شراب څښل غواړې او ما ازمويې.
هسو (په غوسه کېږي): داسې نه ده کـه مـا پـر دې چټيـاتو بـاور او عقيـده درلودلای نو تا ته به مې نه ويل، خو چې روغـه نـه يـې، نـو نـه غـواړم چـې ډېروڅښې، فقط يوه پياله!!
سپينه (تبسم کوي): دا به څومره بده وي، که زه بېرته منګوره شم.
هسو (دعذر خندا کوي): مه په غوسه کېږه، ته خو پوهېږې چـې تـه پـه مـا څومره ګرانه يې. که ته بلاوای، نو ماله تاسره مينه نه شوه کولای (احترام کوي) ښه، نو دا يوه وړوکې پياله واخله. (دی د ننه ځي)

سپینه (چورت خراب): آه! زما مېړه خو ښې خبرې وکړې، خو له دې ټوکې نه زه ډارېږم ما هیله کوله چې په خوشالۍ به ژوند وکړو؛ خو لکه چې د "اژدها ببړۍ" مېله راته بلا شوه.
ما خو څوک نه دي ازار کړي، ولې خلک زیار کاږي، چې زما مېړه ماسره وران کړي او دغه ښه ژوند مو په لغته ووهي.؟ که زه اوس شراب ونه څښم، نو هغه به ګومان وکړي، چې زه ګوندې له سرکې څخهووېرېدم، شک به یې په زړه کې پیدا شي او دا خوږه مینه به مو ګډه وډه او ړنګه شي.
(هسو یوه وړه پیاله راوړي او شراب پکې تویوي)
هسو: ګرانې دا پیاله وڅښه!
سپینه: پروانه شته، ځکه چې زما جادو زده، او دا هر څه به په ښه تېر شي. (پیاله څښي) دلته!
هسو: ښه! دغه بله پیاله واخله.
سپینه: ښه! ...(په تردد کې لوېږي)
هسو: د اوږده او د خوښۍ د ژوند په خاطر!
سپینه: د اوږده او ګډ ژوند په خاطر!
هسو: هو شاید چې تر ډېره په خوښۍ او اوږده د مینې ژوند وکړو.
سپینه (ځان هېروي، بله پیاله څښي): هو! راوړه.
هسو (د هغې پیاله بیا ډکوي): یوه بله پیاله هم.
سپینه: اوه! (له ځان سره راټولېږي او شکنجه کېږي) نور نه شم څښلی.
هسو (خپه): ته بېخي ښه یې.

سپينه (په احتياط): هو! . (په ناميندۍ) شينکۍ!
هسو: هغه تللې، راځه چې زه دې بسترې ته بوځم.
سپينه (شرابي خندا کوي): زه ښه يم او شرابو راباندې کوم اثر نه دی اچولی...
(هسو د پردې تر شا سپينه بسترې ته بيايي او خپله ترې راوځي.)
هسو (په راوتلو کې): آه! دا خو د اوو مياشتو اولاد په نس لري او ښه نه ده، ولې مې په زور ورباندې شراب وڅښل. اوس به نو څه وکړم؟ (چورت وهي).
پوه شوم. زه به لاړشم درملتون ته او د زهرو ضد د ارو به ورته راوړم (دی بيرون ځي او ژر بېرته راګرځي) ولې ونه درېدم چې فکر وکړم؟ کاش مې سرکه يې شراب نه وای ورکړي. هغې ډېر سخت کار هم کړی و. ژر ده چې ماته يو ماشوم وزېږوي، راځه چې دا سره پرده جګه کړم. (په چورت کې دی چې څه وکړي) و درېږه!
که زما ښځه انسان نه وي، نو څه به کوم؟
هغه بله ورځ فاهای ماته وويل چې ستا ماندينه د زرو کالو د زړې منګورې روح دی او چې د سرکې شراب وڅښي، نو په خپل زاړه شکل اوړي. اوس خو دې څښلي دي، که زه پرده پورته کړم او دا ربښتيا مار شوې وي، نو څومره ډار او خوف به وي! (بيا په فکر کې لوېږي) نه! دا خوله ماسره ډېره ښه ده او د ګل په شان ښکلې ده، څرنګه به بلا ښی! زه بايد د هغه راهب چټياتو او بې عقلو خبرو ته ونه ګورم.
(د سپينې غږ اوري)

..... زه اوس ویده یم او لږه ښه هم یم، دوا پر مېز کېږده او پرې مې ږده چې لږ سر کېږدم (دی پر مېز دارو ږدي) ګرانې دا شربت مې هم دلته کېښود او زه لاړم. (دی بېرته وځي).
فاهای (رابښکاره کېږي): څه چې د دې پر دې شاته دي، همدا به دې داروشي . لږ زړه پیدا کړه او ورشه هغه جادو ګره ښځه دې وګوره.
هسو: فاهای بیا اخطار را کړ، چې زما ماندینه مار دی؛ زه نه غواړم چې هغه رابیداره کړم، خو څرنګه د خپل زړه شک لرې کړم؟
زه به دا دوا ورته یوسم (د پردې تر شاه زګېروی اورېدل کېږي) ګرانې مه خپه کېږه، ما درته دوا راوړې ده. (پرده پورته کوي) مرسته! (بې هوشه لوېږي) (شنه راننوځي)
شنه: آه! (ګوري چې هسو پروت دی) پاڅه خورې پاڅه!
سپینه اوه.....
شنه: ژر پاڅه! مېړه دې له ډاره مړ دی.
(سپینه پرده پورته کوي او په ډار کې ده، چې خپل مېړه په غولي پروت ګوري. دا وربانديې ورکښته کېږي، چې راويې ښوروي، خو په ژړا پيل کوي) آه! زما بې وزله مېړه! زما مېړه له ډاره مړ دی! سترګې يې وازې پاتې دي او غاښونه يې سره ورغلي دي او دواهم پر غولي توی شوې ده، او د دغې منظرې په کتلو نور هم زړه خورې.
آه، ملګريه!!
شنه: دا د ژړا وخت نه دي، ته بايد فکر وکړې، چې څرنګه موږ اوس د ده علاج وکړو او بېرته د ښه ژوند خاوند شي.

سپينه: ښه دې وويل، ته له ده سره اوسه او زه به د ښاپېريو غره ته د ده دوايي بوټي پسې لاړه شم.
شنه: ماته ګوره خورې! که هلته دې د ښاپېريو لښکرې ونيسي، بيا به څه کوې؟
سپينه: زه خو د ده د علاج لپاره د دوا بوټي راوړم، دارو د تورو غرو تر شا وي او که له سين نه پورې غاړه. زه ځم، آه! خورې! (په څڅنده اوښکوله کوره وځي) زه د ښاپېريو غره ته ځم او مېړه مې په تا سپارلی، که زه بېرته راغلم، خو روغ به شي، که رانه غلم؛ نو د يخې غونډۍ په خوا کې يې واچوه، چې له قبره يې د مينې واښه راشنه شي اويوه د ولې ونه هم ورسره نژدې وکره. زه به ځان بلبله کړم او را وابه لوځم او په هغه ونه کې به د ده په مينه د غم چغار کوم.
شنه: دا ماته پرېږده، خورې! (خپله توره سپينې ته ورکوي)
(سپينه توره اخلي، بيا هسو ته په ځير ګوري او شنې ته سلام کوي).
سپينه: خورې! ما پر تا وسپاره! (وځي او ځي)

# د ښاپېريو د غره لښکر
# شپږمه پرده

د ښاپېريو غر
(جمال او کمال په ګډه)

دواړه: د ښاپېريانو غر ډېر ښکلی غر دی، د بلبلو او مرغانو خوږې نغمې او طلايي هوا، شنه ډنډونه او دوايي بوټي او د غرونو سرونه له سپينو وريځو سره ټکروهي، دا څومره ښکلی ځای دی.

جمال: هر کله!

کمال: هر کله!

جمال: مشر راته ويلي دي، د غره ګزمه ووهو! راځه چې يو ځل ترې تاوشو، چې څوک نه وي راغلي.

کمال: ډېره ښه ده.

جمال: کله چې موږ دغه مبارکه ځمکه ساتو، نو تورې مو سره ځلېږي، (به ګډه به نڅا دواړه وځي)

# اوومه پرده
# دوابوټي راپټول
# (د ښاپېريو غر)

سپینه(راښکاره کېږي) توره په لاس (ننوځي) په سرو سترګو د ښاپېریو غره ته راغلم، ما باید د شینکۍ منلي وای او شراب مې باید د مېلې په ورځ نه وای خوړلي. مېړه مې دښنې په تصرف کې پرېښی او عهد مې کړی، چې څو مې دوابوټي نه وي راوړي، بېرته نه ځم په ډاډه زړه په دې غره حمله کوم، (بېرته ځي) آه! څومره بدخویه ښاپېري په لار کې د غره ساتلو لپاره ولاړ دي، زه به بېرته ځان وباسم.

(جمال راننوځي او د دې لار په توره بندوي)

جمال: د غره ساتونکی جمال دی ته څه بدشی یې چې په غلا دلته راغلې یې!

سپینه: اې ساتونکیه پېریه زه سلام درته کوم، چې زه په اومې غره کې اوسېدم او درښتیا په لټه وم او هانګچو ته راغلم، هلته مې له هسوسین سره واده وکړ، اوس هغه مرګانی پروت دی، ناروغ دی او زه راغلې یم ، چې ستاسې دوابوټي د هغه د تداوي لپاره یوسم.

جمال: دا زموږ مخصوص بوټي دي او چاته يې نه شو ورکولای. څرنګه يې يوه مرګاني انسان ته ورکړو؟
سپينه: د خدای لپاره ديوه مرګاني انسان پر حال زړه وسوځه!
جمال: څه! که نه نو اوس به دې په دې ځلانده توره سمه نيمه کړم.
سپينه: چې يو ځل زه دوابوټی واخلم، بيا مې لس مرګونه هم منلي دي.
جمال: زه وايم، چې څه! مخه دې کوه!
(دی وربانديې وار کوي)
سپينه (ځواب ورکوي): وبخښه! زه هم نوره له سره درته تېره يم!
(دوی جنګ کوي، سپينه پر جمال زخم ږدي، دوابوټی راشکوي او کمال په منډه راځي، سپينه دوابوټی په خوله ننېسي او جمال او کمال دواړو سره د جنګ له پاره ځان تياروي، جنګ کوي او پر ځمکه لوېږي، اوس هم هغې هماغه بوټی په خوله کې کلک نيولی دی.)
کمال (خپله توره راپورته کوي): ودرېږه بلا!
(مشر په منډه راځي او عسکر يې ورسره دي.)
مشر: کماله لاس دې ونيسه! (سپينې ته) دومره زړه ورهیې چې راغلې يې او زموږ دوابوټي غلا کوې؟
سپينه: محترمه پلاره! که زه دلته و هم وژل شم، دومره خبره نه ده ، خو څوک به زما د مېړه د ژوند غم وخوري.؟
مشر: ستا په مينه چې له خپل مېړه سره يې لرې او خپل ژوند دې ترې قربان کړی، ډېر افرين. اوس ته حامله هم يې زه به دربانديې رحم او لور

وکړم، ورځه دا بوتې یوسه او د مېړه غلاج دې ورباندې وکړه اوس نو ځه او دغه غر نور پربږده.

سپینه (د دغې بې تمې هیلې د پوره کېدو له خوشالۍ نه اوښکې تویوي): لویه خدایه ډېر شکر دی، بېرته راګرځي، مشر ته سلام کوي.

مشر: دلته نوره مه درېږه! عسکرو ځئ نور خپل قصر ته ولاړ شئ.

# اتمه پرده

# سپينه خپل مېړه ته داد ورکوي

# (د ننه خونه)

سپينه: له ډېر ربړ وروسته د خپل مېړه د ژوند د ساتلو لپاره د دوا بوټي په پيدا کولو باندې برياليۍ شوم خو اوس دی راسره ډېره سړه وضع کوي. زه به د خپل ايينې په مخ کې وژاړم.

(شنه خپه غوندې راننوځي)

شنه: دی زما له باداري سره ظالمانه رويه کوي، تر دې چې له ماسره هم په دروا غو چلېږي. خورې! (دې ته ګوري) تا جامې اغوستي؟

سپينه (په خوشالۍ): ښېرته راغلې، زما مېړه هم راځي؟

شنه: اه! زه يې چې وليدلم، ځان يې په حساب کولو مشغول کړ؛ خو چې ومې کتل د حسابۍ په يوه زاړه کتاب لګياو، د څو مياشو کتاب و.

سپينه (ډېر په تکليف): زه خيال کوم ، چې لا اوس هم دی پر ما امتحان کوي. (ژاړي)

شنه همداسې ده، تا د ده د ژوند لپاره ځان په خطر کې واچاوه او دی له تاسره دا ډول نامناسبه رويه کوي، که زه ستا په ځای وای، نو په ځای به مې پرې ابښی وای، زړه پرې مه خوږوه!

سپينه: خورې لکه چې درنه هېر دي، چې زه شتمنه يم.؟
شنه: البته نه، خو هر کله دې چې ماشوم وزيږاوه، نو بيا يې ورته ور کړه.
سپينه: شينکۍ! پر ماباندې هسوهسين دومره ګران دی او دومره مينه ورسره لرم، چې که دا ټول سيندونه وچ شي او ټول ګټونه مات، ټکړه ټکړه شي هم زه د ده جدايي او بېلتون نه شم زغملای. ته مې هڅوې، چې بېرته اومې غره ته لاړ شو او هسوهسين په ژوند پرېږدم. ته لږه پوهه شه ، چې له ده سره څومره مينه لرم، که ځمکه او اسمان رنګ شي؛ نو هم به زه دی خوشې نه کړم.
شنه: زه نه غواړم، چې بيا غرنۍ او يواځې ژوند وکړو، د مني لوېدلې پاڼې بېرته منډانو ته ورالوځي؟ د ده ټول لوظونه باد يووړل، مخکې له دې چې مينه پر کرکه واوړي، ته بايد بېلتون غوره کړې، نو ورته انتظارمه کوه، چې زړه دې ښه پسې وچوي.
سپينه: زه ګومان نه کوم، چې دی به داسې وي. که څه هم زه ستا د نظر يې ستاينه کوم. ښځه او مېړه په اسانۍ بېلېدلای نه شي.
شنه: ښه که ته د هغه دبېلتون نيت نه لرې، نو اوس يو تدبير وکړه ، چې د هغه بېرته درسره علاقه پيدا شي او اعتماد درباندې وکړي.
سپينه (په احترام سر ښوروي): ډېره ښه ده ، ته ښه وايې، زه به نو فکر وکړم... لار مې پيدا کړه. خورې! د ورېښمو اووه فوټه سپين تار به د هغه شک لرې کړي، شينکۍ ما خو يو پلان وسنجاوه.
شنه: څه پلان دې سنجولی؟

سپینه: زه به خپل وربښمین کمربند په نقره یي ښامار واړوم او د اشپزخانې په ستن به یې په خېژولو راولم، نو بیا به زه له ده سره د دې منظرې د لیدو لپاره ورشم او ورته وبه وایم، چې دغه د ښه بخت اژدها ده، دغه کار به پر ما باندې د هغه بدګوماني ورکه کړي.
شنه: دا خو ډېر ښه فکر دی، تر څو چې زه دې راولم، ته ځان تیار کړه
(شنه په چالاکۍ وځي)
سپینه: ښه! د بدګومانۍ ګرد زموږ د مینې ایینه خیرنه کړه. زه به خپل کمربند د اشپزخانې په ستن پورې وتړم. (خپل کمر بند اخلي او د اشپز خانې په ستن پورې یې تړي.)
(شنه راننوځي)
شنه: ډاکتر تاو او نور دی هڅوي چې دننه راشي.
ډاکتر تاو: ستا محترمه او ګرانه مېرمنه تا غواړي ځه ورشه. (دوی هسو د ننه ورتېله کوي)
سپینه (د هسو د هر کلي لپاره راپاځي). آه، مېړه!
هسو (چې اوس هم له دې څخه په ډار کې دی): ورځ دې ښه.
(دی پر ځان زور راوړي او له دې سره کېښني)
سپینه: شینکۍ راته وویل، چې تا په درملتون کې حسابي کوله؛ خو له دې کبله چې تازه له مریضۍ راپاڅېدلی یې، ډېر کار مه کوه.
هسو (په غوسه):زه بېخي ښه یم.
سپینه: زه خو له تاسره کومک نه شم کولای شینکۍ ته مې وویل، چې څه لوښي تیار کړي، چې موږ په ګډه لږ شراب په مزه وڅښو.

هسو : څه حاجت نه شته.
سپینه: اوه! ارو مرو به لږ خښې، شینکۍ شراب راوړه.
شنه: ښه خورې! (وځي)
سپینه: آه، مېړه! دا دولس ورځې کېږي، چې زه دې پرېښې یم، وعده راسره وکړه، چې بیا به مې نه پرېږدې.
شنه (په ډار په چیغو راننوځي): اوه! خورې دلته راشه!
سپینه: څه چل دی؟ (هسو ته) ته یوه ګړۍ صبر وکړه، زه به دستي بېرته راشم. (په کراره وځي)
هسو زما ښځه خو د همېشه غوندې مینه ناکه ده، نو څنګه به یو انسان له یوې منګورې سره مینه وکړي؟
(سپینه په هیبت بېرته راننوځي، او تر او تر ګوري)
هسو: ولې داسې اوتره یې؟
سپینه: کیسه دا ده، چې شینکۍ اشپزخانې ته په شرابو پسې ننوتله، یو لوی سپین ښامار یې د کوټې په ستنې پورې لیدلی دی.
هسو (په لړزې): څه شی دی؟ سپین ښامار بیا راغلی؟
(شنه په چالاکۍ راننوځي)
سپینه: خورې مه ډارېږه! ډاکتر تاو وایي، چې دا د ښه بخت آژدها ده، چې زموږ کور ساتي او چاته ضرر نه رسوي.
شنه: هو! کله چې ښځه او مېړه یو له بل سره ښه ژوند تېروي، نو د ښه بخت ښامار ورته راځي. دا د نېکبختۍ علامه ده.
سپینه: اوه! همدا د نېکبختۍ علامه ده.

هسو: اژدها تللې ده؟
شنه: نه هغه لاتر اوسه همالته ده. کولای شو لاړ شو او سيل يې وکړو؟
هسو: چا ته څه نه وايي چې ورته وګوري؟
شنه: ولې نه؟ خو زه نه ډار بېږم.
هسو: راځئ چې ورشو او ټول يې وګورو.
(هسو، سپينه اوشنه ټول ځي او بېرته راځي)
هسو: اوس نو ډېره ښه شوه، دا خو رښتيا چې د ښه بخت اژدها وه. زما ټول شکونه په خپله مخه لاړل او ګرانې ماته يې يو شی راياد کړ.
سپينه: ښه؟
هسو: ما چې پر تا باندې د مېلې په ورځ شراب و څښل او کوټې ته درپسې درغلم، همدغه سپين منګور مې وليده.
سپينه: ښه تا په همغه ورځ دا مار ليدلی و؟
هسو: هو زه ګومان کوم چې همدغه و او همدغې زه ناروغه کړی وم.
شنه: نو مخکې دې ولې نه ويل؟
هسو: اه!... زه بې عقله وم او په يوه بې اساسه کيسه باندې غولېدلی وم. زه په رښتيا بې عقله وم. ګرانې ته کښېنه (دوی په چوکۍ کښېني) هغه لويې پيالې راوړه، شينکۍ، چې خپل زړونه خوشاله کړو.
سپينه: ته اوس تازه ښه شوی يې، ډېر شراب مه څښه.
هسو: ډېره ښه ده. اوس مې لږ دماغ دمه دي او ناروغي مې څه قدر ښه شوې ده.

سپينه: دمېلې په ورځ زه چندان ښه نه وم، چې شراب مې درسره څښلي وای. نن شپه به د هغې قصور وکاږم اوس دواړه لږ ښه شوي يو، نو راځه چې نن لږ لږ شراب وڅښو.

هسو: څنګه چې ستا خوښه وي.

سپينه (شنې ته): دننه خونې ته لوښي او پيالې يوسه (بېرته هسو ته ګوري) زه به پخپله ستا خدمت وکړم.

هسو: مننه ګرانې.

سپينه: آه... ګرانه، هره شپه به دا زما بالښت په اوښکو لوند و.

هسو: اوس مو بيا مېاشت په وربځو کې و ځلېدله.

سپينه: ګرانه (په نرمۍ پړه ورباندې اچوي) په دغسې درواغو باندې نور باور مه کوه.

هسو: آه! ګرانې (ستوريو ته ګوري) دا ستوري به هم داسې مينه ونه ګوري لکه زه يې چې له تاسره لرم.

(دوی غاړه په غاړه وځي او شنه ورپسې ده.)

# نهمه پرده
# هسو هسین د چنشان خانقاه ته ځي
# (دسین پر غاړه)

(فاهای خپله امسا ټکوي، راروان دی)

فاهای: زه راغلم دغې د سین د غاړې خېمې ته، چې ګډې پـه ورانـه لاړې نه شي. (چې هسو هسین ګوري، نو لار ترې چپوي)

هسو: د مېلې پـه ورځ خو ما عود لوګی کړ او شراب مو وڅښـل، کلـه مې چې ښځه بې سده شوه، نو هغې تـه مې لـوګي وکـړ، چې سره پـرده مې پورته کوله. له خپله ځانه وډارېدلم ما ګومان وکړ، چې زما ماینه ګوندې منګوره شوېده؛ خو چې معلومه شوه چې د ښه بخت آژدها وه، چې زما د ماینې په بستره پرته وه.

(فاهای په کراره په مخه ورځي)

فاهای: که تاته د یانګځي دا زړه راښکونکې منظرې خوند درکوي، نو ولې د چنګشان خانقاه نه ګورې، چې پر سین د پاسه پرته ده؟

هسو: آه، دا ته یې پلاره! دا ډېره موده وشوه، چې مانه یې لیدلی.

فاهای: زه زړېږم، نژدې ده چې ژونـد مـې پـای تـه ورسـېږي، ځکـه چې ناروغ یم.

هسو: څه ناروغي لرې؟
فاهای: دا ناروغي راته له ډاره پیدا شوې ده.
هسو: له دومره عقل او پوهې سره هم ته ډارېږې.؟
فاهای: ولې نه، که ناڅاپي ټکان راورسېږي، نو ډارېږم به نه؟
هسو: دا پېښه خو ماته هم نوې ده، چې ناڅاپي وبرېدلی یم.
فاهای: ته هم وبرېدلی یې؟ دا چې ته ترې ووبرېدې هم هغه بلاوه؟
هسو: هو! همغه وه.
فاهای: ما درته رښتیا ویلي وو که نه.؟
هسو: تا خورښتیا ویلي وو، خو هغه مار بیا هم زموږ د مطبخ په ستن باندې ښکاره شو او زما ماینې وویل، چې دا د نېکبختۍ مار دی او دا هغه مار دی، چې ته ترې وبرېدلې وې دا مار چاته ضرر نه رسوي.
فاهای: راځه چې د دغې پېښې په پوره تفصیل دې پوه کړم په دغه ورځ ته له ډاره مړوې؛ خو ستا ښځه د ښاپېریو غره ته لاړه او دا بوټی راغلا کړ او ستا ژوند بېرته راوګرځېد. د ښه بخت اژدها د دې کمربند و.
نو دې به څنګه دا کارونه کړي وای، که دا بلا نه وای؟
هسو: نو د دغه کار د ښه والي ښکاره دلیل دا دی چې زما د ژوند د ژغورلو لپاره د ښاپېریو غره ته د دوا بوټي د غلا کولو پسې تللې او ځان یې په خطر کې اچولی دی.
فاهای: دې دغه کار د دې لپاره نه دی کړی، چې ستا ژوند یې مطلب دی: بلکې دا یې د دې لپاره کړی دی، چې ستاله ښکلا نه استفاده وکړي او څه وخت پورې دې ژوندی پرېږدي.

هسو: اوس خو دا د اوو میاشتو شتمنه ده: نو د دې به هم څه پروا ونه کړي؟

فاهای: ښه واوره، یو سړی زیارت ته تللی و، یوې ښاپېرۍ د سړک پر غاړه ژړل او ده ته یې ویل، چې ما باندې مې مېړه ډېر ظلم او تېری کوي، د مسافر وربانديې زړه خوږ شو او خپل کور ته یې بوتله او سره ښځه او مېړه شول، چې لس میاشتې تېرې شوې، یو ځوی یې وزېږاوه او پوره خوشاله وو؛ خو دا بلا ورته په غوسه شوه او یوه شپه یې له ځان نه لوی مار جوړ کړ، لومړی یې خپل ګران ځوی تر ستوني تېر کړاو بیا یې خپل مېړه وچیچه او مړیې کړ. ته ځوان او ښکلی سړی یې او سپینه پر تا مینه شوې ده، سپینه به تا هم تر ستوني تېر کړي.

هسو (په ډار او خوف سره): آه! پلاره څرنګه به زه ترې وتښتېدلای شم؟

فاهای: پر بودا تکیه وکړه، دی به تا له دې بلا نه وژغوري.

هسو: ما د خپل مرض پر وخت منلي وو، چې بودا ته قرباني ورکړم. نن مې خپلې ښځې ته وویل، چې زه نن ستا خانقاه ته درځم، چې خوشبویي درته هدیه کړم.

پلاره اوس نو یوه لار راوښیه!

فاهای: زه خو دا نه شم کولای.

هسو: دا لس دانې د نقرې مرغاوۍ واخله.

فاهای: ته په پیسو ځان نه شې ژغورلای.

هسو: نو څه وکړم؟

فاهای: زما مرید شه.

هسو: اوه...سبا پورې راته کتلای شې؟
فاهای: سبا پورې ډېر وخت دی.
هسو: ستا خو ډېره تادي ده پلاره!
فاهای: د سوځېدونکي یا غرقېدونکي سړي په ژغورلو کې ډېره تادي په کار ده.
هسو: ډېره ښه ده، زه ستا منم.
فاهای: ماپسې راځه چېرته ځې؟
هسو: زه به لومړی کور ته لاړ شم.
فاهای: ولې بېرته ځې؟
هسو: زه کولای شم، چې خپل کور پرېږدم، خو د خپلې ماینې مینه نه شم پرېښوولای.
فاهای: ته چې دومره بې عقله یې؛ نو څرنګه غواړې چې له دغې بلا نه خلاص شې؟
ښه تا ونه ویل، چې زه خانقاه ته د قربانۍ لپاره راغلی یم؟
هسو: ومې ویل.
فاهای: چې تا قرباني ورکړه، نو زه به درته ستا تېر حال او راتلونکی حال بیان کړم، نو بیا ستا خوښه، چې د ژوند پر لار ځې او که د مرګ پر لار ته باید د ښو او بدو فرق وکړې.
هسو: ډېره ښه شوه.
فاهای: راځه!

هسو پربږده چې ځم، زه خپله ښځه غواړم او چې دا هم وغواړم چې مريد هم شم، نو داسې مثال به وي، لکه چې يو سړی په يوه وخت کې په دوو جالو پښه کښېږدي.
فاهای: زه يوه بې رحمانه توره لرم، چې د ګناهونو غوټې وربانديې پرې کوم. راځه چې بودا ته ورشو هسو هسو هسينه! (هسو بيا يي اوبندي کوي يې)

# لسمه پرده

# پرسین تېربدل

# (په یانګڅي کې)

(سپینه او شنه په یوه کښتۍ کې راځي)

سپینه شینکۍ زموږ چل خو کار وکړ.

شنه: هو.

سپینه: په یاد دې دي، چې د هغه په لومړي ملاقات له ماسره څومره مینه وه او کله یې چې د فاهای خبرې واورېدلې، مینه لاړه او زه یې پرېښولم زه خو ډېره خپه یم.

شنه: دا ښه خو وشوه، اوس لاس تر زنې لاندې کښېناستل څه فایده نه لري، راځه چې له فاهای سره یې معلومه کړو.

سپینه: هو! زه نه پوهېږم، چې د دغه لوڅ سري خره ولې زموږ مینې ته کینه راغله او زما مېړه یې زما پرېښوولو ته اړ کړ. دا درې ورځې کېږي، چې تللی دی او یوه خبره خط یې هم را ونه لېږه.

شنه: راځه چې په خپلو تورو هغه وحشي خره ته یو ښه درس ورکړو.

# يوولسمه پرده
# سپينه خپل مېړه غواړي
# (د چنشان خانقاه)

فاهای(د سين په غاړه درېږي): زه په خپله خونه کې په عبادت بوخت وم او هسو هسين ته مې د بودا خبرې ورښوولې زه پوهېدم چې منګورې به راشي، نو ما هم ځان ورته تيار کړ.
شنه: شين سرى خره! زما بادار بېرته راکړه!
سپينه (په چالاکۍ شنه چوپ کوي): داسې مه وايه! (فاهای سره دعوه کوي) پلاره زما مېړه ستا خانقاه ته د قربانۍ ورکولو لپاره دا درې ورځې کېږي، چې راغلی دی مهرباني وکړه او غږ ورته وکړه، چې خپل کور ته لاړشو.
فاهای: د مېړه نوم دې څه دی؟
سپينه: هسوهسين.
فاهای: هغه دلته نه شته، چېرته بل ځای يې ولټوئ.
سپينه: هغه چې له کوره راواته، ما ته يې ويلي و، چې زه هم دلته د قربانۍ ورکولو لپاره ځم موږ يو تر بله سره ډېره مينه لرو او يوه وعځ هم

بېلتون نه شو قبلولای، مهرباني وکړه او راسره يې پرېږده، چې يو ځای کور ته لاړشو.
فاهای: زه به درته رښتيا ووايم ستا مېږه زما مريد او د دغې خانقاه راهب شو، هغه اوس بېرته نه شي تللای.
سپينه: هغه نه شي تللای! موږ هم قسم کړی، چې يو له بل سره به په صداقت چلېږو. دا کار کېدلای شي، چې په دې ډول زموږ کور وران شي؟ زه درته سوال کوم، چې زما مېږه له موږ سره پرېږده، چې کورته راسره لاړ شي، موږ به تل ستا ډېر منت بار يو اوه، پلاره! زما مېږه هم ماسره ږو کړې وه، چې تل به سره مينه کوو، رحم وکړه او هغه راسره پرېږده، او موږ به ستا ښه هر کله يادوو.
فاهای: بدې بلا! (شنه له قهره تاوېږي را تاوېږي، خو سپينه يې منعه کوي).
انسان څرنګه له بلا سره مينه لري؟ که ځان در باندې ګران وي، ځئ خپل اومې غره ته او که نه نو مرګ مو يقيني دی.
شنه: وحشي خره! زما باداره او هسو هسين سره خوشاله وو، خو چې ته راغلې دوی دې سره وشلول بدنفسه رذيله! راپرې يې ږده چې راسره ځي که نه نو دا ځله خانه به دې په سين لاهو کړم.
سپينه: دومره زيږه مه غږېږه آه، پلاره، شينکۍ بې ادبه ده او نه پوهېږي، د دې په خبرو مه خپه کېږه، ته بايد د بحر په څېر لويه سينه ولرې.

بودا د ګډ ژوند امر کړی دی، همدا وجه ده چې خلک یې قدر کوي پر ما رحم وکړه پلاره! زه د اوومیاشتو حامله یم، زه درته سوال کوم، چې زما په دې حال رحم وکړه او زما مېړه ما سره پرېږده، چې ځي.
فاهای: دا هیلې دې خوشې بربادې دي، څو چې دا سین په شا نه وي تللی، تر هغې پورې دې خپل مېړه ببرته نه شې لیدلای، مورې د انسان په نړۍ کې بلا نه غواړو.
سپینه (کوښښ کوي، چې خپل قهر ټینګ کړي) زه له بې وزلو او ناروغانو سره مرسته کوم او ټول همسایه خلک زما نېکۍ ته قایل دي، بلا هغه وي، چې ښځه او مېړه سره بېلوي.
فاهای (په قهر): زما د امسا زور درته نه دی معلوم؟ زه نه غواړم چې بلا ماته د ډار خبرې وکړي.
سپینه: ستا امسا چې هر څومره زوروره شي، نو حقیقت او عدالت له منځه نه شي وړلای.
شنه او سپینه دواړې: راسره پرېږدې یې او که نن دې کور په سین لاهو کړو؟
(فاهای د دوي مجادلې او جنګ ته خپل اسماني مریدان راغواړي.)
اسماني مریدان: مورې ستا هر امر ته تیار یو.

# دوولسمه پرده

# دسین په غاړه جنګ

(د یانګڅي سین د چنشان خانقاه په خوا کې)

(سپینه رانږوځي، په خوړین زړه یې د منصب داری ببرغ په لاس نیولی دی او وروسته له لږ فکرنه شنې ته ور ګوري، چې د اوبو ارواح حاضر او راټول کړي، سپینه د دوي په منځ کې درېږي)

سپینه (د اوبو اروا حو ته) دا ستاسې کار دی، چې له خپل جادوګر قدرت نه به کار اخلئ.

د اوبو ارواح: مورې پر خپل جادو ډاډ لرو مېږه او ښځې د خپل ژوند د ښه کولو لپاره دوا پلورله او دې بد بخت سره ببل کړل.

سپینه: یوه ورځ فاهای راغی او زما مېړه یې اړ کړ، چې پر ما باندې د سرکې شراب وڅښي، که څه هم ما د ښاپېریو له غره بوټي راغلا کړ؛ خو هسوسین اوس هم په درواغو باور کوي او خپله ځوانه ښځه پرېږدي دا ټولې بدبختۍ د دې راهب له حسد څخه ما ته پیدا شوي دي. دی ډېر ظالم دی او زه غوارم، چې خپل کسات واخلم.

وروڼو او خویندو! راځئ چې د فاهای ژوند ختم کړو.

ټول: مورې حاضر یو!

(آسماني مریدان او د اوبو ارواح سره په جنګ شروع کوي، سپینه او شنه هم جنګ کوي اسماني مریدان جنګ ګټي او سپینه له کاره لوېږي.
شنه او د اوبو ارواح ماتې کوي)
سپینه (په غم ژاړي): آه، مېړه!
(آسماني مریدان ورپسې ځي)

# دیارلسمه پرده

# له خانقاه نه تېښته

(د خانقاه لوی سالون)

(هسو هسین په داسې حال کې د بودا هدیې ورسره دي، راځي)

هسو: زه راغلم او چنشان ته مې پناه راوړه، زه دلته بند شوم او ډېر بد ژوند تېروم، دبودا هدیه په لاس د ګرانې ماینې نوم یادوم.

(شور اورېدل کېږي)

آه! د دروازې د باندې دا د جنګ شور له کومه شو؟

(یو مرید چای راوړي)

وروه دا دباندې څه شي دي؟

مرید: دا ... دا درته نه وایم؟

هسو (پوهېږي): زما ماینه ما پسې دلته راتلای شي؟

مرید: دا فکر تاکړی؟ دا ستا ماینه ده، چې تا لټوي دا څومره ښایسته اوښکلې ده، خو دا خدمتګاره یې تروره ده.

هسو: اوس دوی چېرته دي، زه ورځم.

مرید: پر ځای دې کښېنه! چېرته ځې؟ ته ورتللای نه شې. بله دا چې زموږ پیروایې، چې ستا ښځه بلا او ډېره ټګماره ده.

هسو: خو د دې مينه حقيقي او رښتيا ده اوه! دا دباندې شور د هغې دی، چې ستاسې پير له دوی سره په جنګ دی.
مريد: زموږ پيراسماني مريدان راغوښتي، چې ستاله ښځې سره جنګ وکړي او اوس يې زورور جنګ شروع دی.
فاهای: مريدانو مه پرېږدئ، چې درنه وتښتي، چاپېره شئ ترېنه!
هسو: آه! زما ښځه د اوو مياشتو حامله ده، څرنګه د داسې زورور جنګ تاب راوړلای شي؟ ورور که ما پرېږده ، چې ور ووځم.
مريد: څه کوې؟
هسو: زه غواړم، چې ... کومک.
مريد: له کومې خوا سره ته کومک کوې؟
هسو: زه له خپلې ښځې سره کوم کوم.
مريد: ته خو فقط ما ځوروې زموږ پير ډېر زور لري او ستا ښځه به مغلوبه شي.
هسو: آه!
سپينه: ملګريه چېرته يې؟ چېرته؟ اې هسوهسينه!
هسو (د لېوني غوندې ګرانې دلته يم! (مريد ته) وروركه! له دې بند او كمند نه مې خلاص كړه! زه نور د هغې چيغې او ژړا نه شم زغملای.
ورور كه يو وار خو مې خوشې كړه، يوه ډېره ښه هديه به دركړم.
مريد: دومره تادي مه كوه واوره! د جنګ شور غلی كېږي، ستا ښځې ماتې كړې او تښتي.

هسو: زه هم ورسره ځم مهرباني وکړه کومک راسره وکړه زه به ستا احترام کوم.
مريد: ډېره ښه ده، ډېره ښه ده! مه خپه کېږه، زه اوس تانه شم خوشې کولای.
هسو: ډېر عذر درته کوم وروره ما خوشې کړه!
مريد: دغه لار (دوی قدم وهي) ګورې؟ منډې وهه او په هغه نرۍ لار ځان وباسه، خو چې څوک دې ونه ګوري.
هسو: اوس مې نور زړه جمع شو (دی ژر وځي)
مريد: يوه ګړۍ وروسته چې پير خبر شي، چې هسو هسين تښتېدلی دی، نو ماته به لوی ځور راپېښ کړي نو څه ته دلته ناست يم؟ زه هم بايد په چالاکۍ وتښتم (دی هم تښتي).

# څوارلسمه پرده

# نړېدلی پل

(د هانګچو د غربي جهيل پر غاړه)

(سپينه جنګ نه ستړې ستومانه راځي)

سپينه له قهره خوټېدلم او جنګ مې کاوه آه! ظالمه مېړه!

(شنه د ننه ځي او سپينه لټوي خپل لاسونه ترې تاووي او ورته ژاړي)

بدا اخلاقه فاهای زموږ پر حال ظلم وکړ؛ خو څرنګه زما مېړه زه پرېښولای شوم، چې زړه مې په دې ډول وچوي؟ (سره تاوېږي را تاوېږي)

شنه (دلاساينه ورکوي) رښتيا وايې خورې!

سپينه له درده يو قدم هم نوره سمه نه شم تللای، اوس به څه وکړم؟

شنه: زه ګومان کوم چې ستا وخت نژدې دی، راځه چې دغه مخکې پول سره لږه دمه وکړو، څو چې يوه لار پيدا کړو .

سپينه: هو، همدا سې به وکړو.

(سپينه او شنه پرمخ ځي او جهيل ته ګوري)

سپينه (په مينه) دا نړېدلی پول نه دی، شينکۍ)؟

شنه (ګوري): دی.

سپینه: نړېدلی پول! د باران په ورځ چې له هغه سره موږ وکتل، د همدې پله په خوا کې موږ تېر شولو؛ پول نړېدلی نه دی، خو زما مېړه اوس نړېدلی دی.
غربي جهیل همغه دی او وي به، پول روغ دی، خو زما زړه نړېدلی او وران دی.
اې بې ننگه او بې ایمانه هسوهسینه، تا د مینې ټول لوزونه مات کړل او بې زړه توب دې وکړ.
شنه: دا همداسې بې زړه سړی و. ما درته ویل چې ورک یې کړه، خو تا زما و نه منل.
سپینه: دی غریب څه ملامت و، ټوله ملامتیا د فاهای وه، چې دی یې له لارې واړاوه.
شنه: البته چې ملامته خو فاهای دی، خو ده به د هغه په خبرو باور نه کاوه او ستا مینه به یې نه هېروله.
سپینه: ته د ده بدگومانۍ ته مه حیرانېږه، ځکه چې فاهای دی غولولی و.
شنه: څه شی! ته اوس هم لا ورباندې ولاړه یې؟ ویې نه ځورولې؟
سپینه: آه! شینکۍ! موږ د ستوریو په مخ کې لوز کړی و، یو له بل سره به همېشه په رښتیا چلېږو.
شنه ته خو ورسره په رښتیا وې؛ خو دی واوښته (په قهر خپله توره راوکاږي) پرېږده چې ټول بې ایمانه او بې لوزه عاشقان په توره قتل کړم!

هسو (ورځي): زه باید په چالاکۍ لاړشم، شپه او ورځ به ځم، ځو چې کور ته ورسېږم او خپله ښځه به لټوم (سترګې یې پر دوی باندې لګېږي) آه! دا خو دلته له پله سره خپه دلګیره ناسته ده او شنه ورسره ایستلې توره په لاس ګرځي را ګرځي او له قهره سره ده. ما دوی په دې غم ککړې کړلې، که د سر خطر هم راته پېښېږي، یو ځل به د خپلې ښځې سلام ته ورځم.

مېرمنې!

سپینه (په حیرانتیا سره): مېړه!

شنه (په همدغه وخت کې): ښه ته راغلې!

(شنه خپله توره راوکاږي او د ده د وهلو نیت کوي)

سپینه: شینکۍ ودرېږه، ودرېږه!

(هسو ترې تښتي)

هسو: زما خو فکر وران دی!

شنه: ګومان مه کوه، چې ګوندې رانه به وتښتېدلای شې!

(ګرد یې سره ځغلوي)

سپینه: ودرېږه شینکۍ ودرېږه! (شنه خپله توره پورته کوي)

هسو (رېږدي او سلامونه کوي): مېرمنې خلاص مې کړه، ترې خلاص مې کړه!

سپینه (دی خلاصوي او په ترخه ژبه ورته وایي): نه شرمېږې چې راته وایې، چې خلاص مې کړه، تا ماسره څه بې وفا یي وکړه او په ځومره رېړونو دې واړولم، نژدې وه چې وژل شوې وای.

هسو: ګرانې ما چې ستا د جنګ واورېدل، ډېر کوښښونه مې وکړل، چې ځان راخلاص کړم، خو فاهای نه پرېښوولم.
شنه: چې فاهای نه پرېښوولې، نو اوس څرنګه راغلې؟
هسو: دا و چې....
شنه (په خبره کې ورلوېږي): زه پوهېږم چې فاهای ته د دې لپاره رالېږلی یې چې مور ونیسي، سر به دې پرې کړم!
هسو: داسې نه ده، غور راته ونیسه! مېرمنې! چې حال درته ووایم.
سپینه (شنې ته): پرېږده چې ووایې.
شنه (په قهر په ګوته ورته اشاره کوي): وایه خبرې کوه!
هسو: آه! مېرمنې! شینکۍ! په هغه ورځ چې زه سین ته ورسېدم، فاهای ماته وویل، چې یو بودایي شم؛ ما غوښتل چې بودا ته له ډوډۍ ورکولو نه وروسته بېرته کور ته راشم، خو چې لیده مې د لویو دېوالونو په اخوا یې بیا بندي کړی وم په دې وخت کې مې فکر تاسې سره و. ګرانې، زما په دغو شپو ارام نه و، ته چې زما لټولو او موندلو پسې چنشان ته راغلې؛ مور سره ډېر نژدې وو، خو یو بل مو سره نه شو لیدلای چې فاهای درسره جنګ کاوه، زما زړه په غشیو سوری سوری ښکارېده، تر دې چې مهربانه مرید زه را خوشې کړم او دا دی دلته مې ځان راورساوه اوس مې ته ولېدلې، که اوس ومرم هم، څه پروا نه شته.
شنه: پاه! که دا خبرې دې رښتیا وای، نو ولې به دې فرېبګرو ته غوږ ایښوده؟

کله چې باداري د فاهای سره جنګ کاوه، ته ولې د هغه په خوا وې؟ ستا دروغ اوس نه چلېږي زما د تورې مزه به وګورې بدبختـه! (خپله توره راکاږي).

سپینه (په چالاکۍ شنه چوپ کوي): توره دې مه خوځوه!

(هسو تـه) آه! مېږه، مـه ډارېږه؛ خو غوږ راتـه پوره کېږده ستا ښځه د رښتیا انسان نه دی، بلکې د اومې غره منګوره ده.

(شنه چې د دې خبرې اوري، پـه خولـه یې لاس ږدي، چې مـه وایـه، خو سپینه وربان‌دې پروا نه کوي)

چې د انسانانو د نیا مې ولیده، نو خپل غار مې پرېښود، په باد او باران کې له تاسره مخامخ شولو او ستا پـه ښو اخلاقـو او ښـه وضعه مو زړه بایلود ځکه چې ته د مور ښه زوی وې موږ مینـه پـه سره خیمـه کې زده کړه موږ خپل وطن پرېښود او چینکیانګ کې مو استوګنه غوره کړه بیا ستا ژوند په خطر کې و او ما نجات درکړ که څه هم زه انسان نـه یم، خو له تاسره مې مینـه وه او شـاید چې اولاد هم لـه تانـه راوړم ورستـه تـر دې چې روغ شوې او په هوش راغلې، د فاهای پـه دام کې ونښتلې مـا ستا ډېر انتظار وکړ، خو تـه رانغلې ، هره شپه بـه مـا تـر سبا پـورې ستا لار څارله او ستا له غمه به مې بالښت په اوښکو لوند کړ. د مینې لـه خوا ړه خوبه دې زه په ترخه غم واړولم زه چنشان خانقاه تـه درغلم، چې تـا پیـدا کړم هیله مې کوله چې مېړه او ښځه بـه دواړه یو ځای کور تـه راځو، کـه شنه نه وای؛ نو اوس به زموږ ماشوم هم هلاک وو. اوس نو د شینکۍ پـه غوسه مه خپه کېږه.

اوس نو خپل زړه ته وګوره، چې څوک په حقه او څوک په ناحقه دي؟
شنه (هسو ته): اوس خو درته زما باداري ربنتیا خبرې وکړې، نور نو ورځه خپل پیر فاهای ته دې ورځه (سپینې ته) خورې راځه چې نور ترې ځو.
هسو: ګرانې مېرمنې! شینکۍ تاته هم وایم!
سپینه: شنې ته ورته غوږ کېږده، چې څه وايي؟
هسو: څرنګه چې زما ماینې ربنتیا کیسه وکړه، نو تېرې کیسې مې ټولې را په زړه شوې، موږ سره لومړی د غربې جهیل په غاړه په باد او باران کې ولیدل او بیا لاړو او په یانګڅي کې مو په دوا پلورلو پیل وکړ زه ډېر بد وم، چې د مېلې په ورځ مې پر تا شراب وڅښل، ته مې هم په زحمت کړې او ځان مې هم له ډاره نژدې وژلی و همدا ستا برکت و، چې د ښاپېریو غره ته لاړې او دا بوټې دې راوړ او زه پرې روغ شوم په کومه ورځ چې زه فاهای ته ورغلم، هغه غوښتل چې زما او ستا د مینې مزې وشکوي، زه یې بندي کړم، او تا زما له غمه بې خوبي کوله، اوښکې دې تویولې، ما پسې ګرځېدلې او زه دې لټولم. نو زه اوس پوهېږم، چې په ربنتیا ستا ما سره مینه وه او ته د نرم زړه خاونده یې؛ ځکه چې دا ربړونه تا زما لپاره وګالل که څه هم ته ربنتیانی او حقیقي انسان نه یې او اصل دې مار دی؛ خو بیا هم زما له تا سره مینه ده او راباندې ګرانه یې.
شنه (ورته راوړاندې کېږي او نیسي یې): څرنګه غوره او ښویه ژبه لرې بې زړه او ځان غوښتونکیه انسانه! ته پوهېږې چې تا خپله ماینه په څومره ربړ واړله.

سپینه: شینکۍ اوس دې پوه شو.
شنه: ته وربانديې څرنګه ډاډه کېږې او باور وربانديې کوې؟ (هسو تېل وهي) آه! خورې ته څومره نرم زړی یې ته نه پوهېږې، چې انسان څومره رنګارنګ او ډول ډول دی، سر یې وي او اخر یې نه وي.
هسو: که مې بیا بې وفا یي وکړه، نو سر مې په توره پرې کړه!
سپینه: خدای دې نه کا! (دا هسو ته ورپاڅېږي او ورسره غاړه غړې کېږي.)
شنه: هه! دوی لا اوس هم یو پر بل مین دي، د دوي په منځ کې ډېر خطرناک تړون دی. زه باید خپله مخه وکړم، او دوی په ځای پرېږدم...
(د غم په حال کې احترام کوي) خورې پر ځان دې نور پام کوه: زه نوره درنه ځم.
سپینه (شنه دروي): شینکۍ! څرنګه خپلې خور ته داسې خبرې کوې؟ قسم مو سره نه و کړی؟ نه ګورې چې دردونه رابانديې راځي او کور او سرپناه نه شته؟ څرنګه ته دومره نامهربانه کېږې او په دې حال کې ما یوازې پرېږدې؟ آه! شینکۍ (له درده ډکه ژړا کوي)
شنه (سپینې ته ډاډینه ورکوي): زه او ته خو سره یوه غوښه او یوه وینه یو. کله چې مور او مې غږ پرېښود، نو سره مود خاورې قسم کړی و، چې ژوند او مرګ به سره وېشو او هره سړه او توده به مو سره په ګډه وي زه هیله کوم چې ته زوی وزېږوې او دا هیله هم، چې هسو به....

(سپینه ژاړي او هسوله خجالته سر ټیټ نیسي؛ شنه د خپلې خور له کبله د ده له جرم نه تېرېږي) که په صداقت چلېده، خو ...او که یې بیا زما د خور د غولولو چل وړاندې کړ، نو په دې توره به یې سر پرې کړم.
هسو: شینکۍ خورې! لکه چې سره په اور صاف او بې خیرې شي، داسې زما د ښځې مینه هم ما ته پاکه او سپېڅلې ثابته شوه که مې بیا بد عهدي و کړه، نو ستا توره او زما سر.
سپینه: ګرانه مېړه! اوس به نو موږ چېرته ولاړ شو؟
هسو: اوس دستي زما د اخبني کور ته ولاړ نه شو؟
سپینه: ډېره ښه ده، خو دوی ته د چنشان خانقاه کیسه مه کوه.
هسو: البته نه یې کوم.
سپینه: راځه شینکۍ (د شنې لاس نیسي) موږ بېرته سره، د دغو ټولو ازموینو وروسته یو ځای شولو شینکۍ راځه چې چینګپو دروازې ته ولاړې شو (جهیل ته ګوري) هغه ځای چې موږ په کې له باران نه ځان پناه کړی و، هم هغسې ښکاري.
(دوی ځي)

# پنځلسمه پرده
# په کچکول نیول
(په هانګچو کې په کور کې)

(د هسو هسین خور راځي او د ماشوم سپینې جامې ورسره دي.)
خور: ژوند موښه ! اوس نو د هسو مینه ټینګه شوه، ما دې واړه ته جامې راوړي دي.
(شنه راوځي اوښکلی هلک یې په غېږ کې نیولی دی.)
شنه: زما د خور زوی وشو! اې ښکلې ورځې! دې په دې دنیا کې بې ځایه ربړونه ونه ګالل آه! دا خو د هلک خور راغلې.
خور: زما ورینداره راپاڅېدلې ده؟
شنه: هو
خور: او ورور مې؟
شنه: هغه د باندې تللی دی، څه ګلان راوړي.
خور: ما د هلک لپاره څه جامې او جرابې راوړي دي.
شنه: ته څومره مهربانه یې! زما خور هم ورته یو جوړ جامې تیارې کړې دي، راځه چې ور وایې غوندو.
خور: ښه ده راځه چې کوټې ته شو.

(هسو ګلان راوړي، راننوځي)
هسو: زما زوی د یوې میاشتې دی او زه ډېر خوشاله یم. ما ګلان راوړي دي، چې زما ماینه یې په ځان واچوي. ګرانې مېرمنې را پاڅېدلې یې؟ جامې واغونده، چې دوستان او اشنایان به اوس راورسېږي.
سپینه (ځي): ښه دا دی راځم.
هسو: لږ وار وکړه، چې زه درسره کومک وکړم.
سپینه: زه نن جامې اغوندم، دا ایینه سمه کړه چې ځان پکې جوړ کړم.
(سپینه آیینې ته ولاړه ده او هسو یې وښتان ږمنځوي)
هسو: زه آیینې ته ګاندم زما ښځه څومره ښکلې ده، ګلان به یې په سرو ټومبم.
(هسو د دې په سر ګلان ټومبي او سپینه ورته په خندا مخ را اړوي)
سپینه: له دې ورځې د مېړه او ښځې ښکلی ژوند پیل کېږي.
(ناڅاپه فاهای ښکاره کېږي)
فاهای: هسوهسی‌نه! دا می‌نه به مو اوس په سر مړه کړم زه به یې اوس په خپل کچکول کې ونیسم او تا به هم چنشان ته له ځان سره یوسم.
هسو (په چالاکۍ د سپینې شاته کېږي) اوه، ته بیا راغلې؟
سپینه: بربنډ سری خره!
(سپینه توره اخلي او په فاهای وار کوي، خو فاهای وار اخلي.)
فاهای: ساتونکیه مریده راځه!
(مرید راځي او کچکول یې نیولی دی)
سپینه: شینکۍ! شینکۍ! (د ځلېدونکي کچکول تر تاثیر لاندې راځي)

فاهای: هغې سره مې لا مخ کې معلومه کړې او رانه وتښتېدله.
سپینه: آه! شینکۍ لاړه! (خو شنه د سپینې د کومک له پاره بیا راننوځي او ایستلې توره یې په لاس کې ده، له ساتونکي مرید سره جنګېږي، فاهای خپله د جادو ګرۍ امسا ورته په مخ کې نیسي، مرید غالب کېږي او شنه ماتې خوري.)
شنه: خورې! خورې!
سپینه: شنې ، تښته! ته کولای شې، چې بیا هم زمونږ بدل او کسات واخلې.
فاهای: ساتونکیه مریده، ویې وژنه، چې درنه خلاصه نه شي!
شنه: رذیله! (بیا سخته جګړه کوي) خورې! (شکست خوري او تښتي)
سپینه: وای، افسوس! شنه هم زما له څنګه لرې شوه! څه ښه ده، بیا به مې هم غم وخوري!
(له هسو نه لاسونه تاووي) آه مېړه! ستا لپاره مې په چینګیانګ کې درملتون جوړ کړ، ستا لپاره مې د ښاپېریو له غره نه دوابوټی راپټ کړ او په چنشان کې مې له فاهای سره جنګ وکړ. سره له دې ټولو وروسته دادی اوس دې زوی هم پیدا شو نن به زما او ستا مینه او خوښي پای ته ورسېږي او تمامه به شي (ژاړي) آه مېړه.
هسو: زړه مې په توره پرې کېږي، خو زه خپل قهر زغم او د فاهای احترام کوم، سوال ورته کوم، چې رحم راباندې وکړې ورته و به وایم، چې زما ښځه بدي نه لري، ولې دومره ظلم کوې.؟که دا مړه شي، نو د دغه

ماشوم ساتنه به څوک کوي؟ که رحم لرې، نو هيله کوم چې رحم راباندې وکړې، زه درته احترام کوم.
فاهاى (لرې کېږي) په! په!
سپينه (هسو دروي): مېږه! ولې قصاب ظالم ته د رحم خبرې کوي؟ (ماشوم ژاړي) دا ماشوم راوړه! (د هسو خور هلک رانباسي)
سپينه: آه وړو کيه زويه! (هلک اخلي) ولې دا سې بې ګناه ربړول کېږې؟ ديوې مياشتې يې اوله موره به پاتې شې، راځه لږ خو په غېږ کې راشه ګرانه زويه، مور به دې بيا ونه ګوري. (ګرده ګرځي او د هلک خدمت کوي)
دهسو خور (له سپينې غېږ تاووي): وريندارې! ستاسې خو په هانګچو کې يوه مياشت وشوه، دا ناڅاپي، بلا له کومه راپېدا شوه؟ ما ته مو ولې زېرى رانه کړ؟ زه به دا خپل ژوند له تا نه قربان کړم.
سپينه (د هسو خور ته مخ وراړوي) آه خورې! زما زوى د يوې مياشتې هلک دى او بې موره به شي، زړه مې ورباندې غوځېږي، خو سوال درته کوم، چې د خپل زوى غوندې يې وساته او ښه پالنه يې وکړه، ښه يې تربيه کړه، چې ښه پتمن سړى ترې جوړ شي.
هسوهسين به درته بيا کېسه ووايي دې ظالم فاهاى زموږ مينه او عشق ګډوډ کړ، پر دغه هلک دې ډېر پام اوسه دى ستا خپله غوښه او وينه ده، زه هيله کوم چې د خپل زوى غوندې يې لوى کړې، زه به درنه په قبر کې خوشاله يم.
هسو: زه خو نور له غوسې او قهر نه چوم!

مین بلبلان سره په ظلم جلا شول، کاشکې چنشان ته نه وای تللې او د فاهای مې نه وای اورېدلي.
فاهای: هسوهسین که تاسې هلته نه وای راغلي، دې بلا به تر ستوني تېر کړې وې!
هسو: پاه! زما ښځه ربښتیا بلا نه ده او ستا کچکول به مات کړم، چې دا له دې شره وساتم (دی قصد کوي، چې کچکول یې ونیسي، خو خو ځولای یې نه شي)
فاهای(خاندي): ته کله زما زور لرلای شې؟
سپینه (پر فاهای ملامتیا وراچوي) رذیله فاهای راته خانده مه! ستا په کچکول زمور مینه له منځه نه ځي!
فاهای: ستاتونکیه مریده! دا سپینه بوځه او په عبادت خانه کې یې بندي کړه، څو چې دنیا وي او دا ژوندۍ وي، چې د دنیا بوی وربانده بیا ونه لګېږي او راونه وځي.
سپینه: رذیله! (ساتونکی مرید سپینه روانوي، هسو او خور یې کوښښ کوي، چې راستنه یې کړي، خو فاهای دوی تېل وهی)
هسو(په نا امیدۍ): مېرمنې!
خور یې: وریندارې!
سپینه: اې مېړه، اې نندرورې، اې زویه!
(سټېج تیاره کېږي)

# شپاړسمه پرده
# د معبد نړېدل

شنه (راځي): د غرونو ټول قوت او زور مې راجمع کړ (له خپلو ښاپېریانو سره شنه راننوځي) زه راغلم، چې انتقام واخلم او خپله باداره له بند نه راخلاصه کړم او فاهای له منځه یو سم، چې معبد ګورم په زړه مې ورته وینې را اوړي.
اې د معبد اروا حو را ووځئ، چې سره معلومه یې کړو!
(د معبد مشر له خپلو لښکرو سره راوځي)
د معبد مشر: دا کومه بلا یې چې موږ سره جګړه کول غواړې؟
شنه: زه شنه یم او که تاسې زما خور را پرېږدئ، نو زه به هم ستاسې د ژوند له خرابۍ نه تېره شم.
د معبد مشر: زه د پیرله اجازې پر ته څنګه دا کار وکړم؟
شنه: زما خور به تر عمره په دې معبد کې بندۍ وي او زه به ژوندۍ یم؟ زه د همدې ورځې لپاره پیدا یم او دا انتقام به اخلم!
د معبد مشر: اې بلا چېرته ځې؟ را ویې نیسئ!

(شنه او د دې ښاپېریان د معبد له مشر او لښکریانو سره جګړه کوي د معبد مشر او لښکریان تښتي او د شنې پېریان معبد ته اور اچوي)
شنه اوس خو معبد ونړېده، خورې راووځه!
(معبد لوېږي او سپینه په رنګینه وریځو او دوړو کې ترې راوځي)

پای



ډرامه دلوستونکي په زړه کې عجیبه پوښتنې پیدا کوي. د ډرامې کمال دا دی چې یو ځل یې پیل کړې نو تر پایه یې باید ولولې یوازې سخته تلوسه نه ده چې ډرامه په سرې لولې. د تلوسې تر څنګ هره صحنه لذت هم لري بیلې بیلې صحنې او پردې پر یوه داسې ځای ختمیږي چې د ورپسې پردې لیدو ته دلوستونکي زړه د ماشوم غوندې ناکراره وي

Design by: Assadullah Khan Amarkhail

دریم چاپ

The Book City
کتاب ښار
شهر کتاب
پوهه لا هم کتاب کې ده
Knowledge is Still in Books

۱۳۹۵